# اوبه په افغاني فرهنګ کې

لیکوال: عبدالغفور لیوال

سریزه:

دموضوع لنډه تاریخچه، شالید

ولې اوبه مهمې دي

## اوبه په افغاني فولکلور کې

- لنډۍ
- بدلې
- ګړنې (اصطلاحات)
- متلونه
- انګېرنې
- لوبې
- دماشوم فولکلور
- æÏæÏ

## په افغاني ادبیاتو کې اوبه

- ولسي (شفاهي) ادبیات
- مدون ادبیات

۱ کلاسیک

۲ اوسمهالي (معاصر)

پایله

ځینې هغه متون چې د اوبو په هکله په زړه پورې موضوعات لري

# اوبه په افغاني کلتور کې

## سریزه:

کلتوري ارزښتونه، فرهنګي میراث، اخلاق او رسم رواجونه هغه نامدون اصول او قوانین دي، چې د ټولنې خلک ټاکلي عمل او د ارزښتونو درناوي ته اړباسي. کلتور نه یوازې مادي لاسته راوړنه بلکې معنوي لاسته راوړنه هم ده چې له یو نسل څخه بل ته پاتې ده. فرهنګ د کلتور تر ټولو متعالی او ارزښت لرونکې برخه ده. په افغاني فرهنګ کې د اهمیت وړ هغه ټکي نغښتي چې د وګړو له ښه ژوند سره سیده اړیکې لري. یو شمېر طبیعي، ټولنیز، اقتصادي، حقوقي او اروايي لاملونه موجود و، چې په فرهنګ کې ډېر داسې څه خوندي شول چې ټولنه او راتلونکي نسلونه باید هغه وساتي، رعایت یې کړي په اهمیت یې پوه شي او لازم کار ورڅخه واخلي.

اوبه او د اوبو راز راز مفاهیم هغه څه دي چې نه یوازې فرد ( وګړی) بلکې ټولنې، ټول چاپېریال او انساني توکم ته لوړ ارزښت لري. اوبو زموږ په بډای فرهنګ کې په راز راز بڼو او مفاهیمو سره ځان ځرګند کړی دی.

له قرآني احکامو څخه نیولې تر احادیثو، علمي آثارو، متلونو، لنډیو او ورځینو خبرواترو پورې د اوبو په هکله تفکر او نظر تر سترګو کیږي، دلته به لومړی د اوبو د اهمیت په هکله د ساینس او اقتصاد له مخې لنډه رڼا واچول شي او بیا به په افغاني کلتور کې ددغې موضوع ځرنګوالی چې یوه په زړه پورې، خو ډېره مهمه موضوع ده وڅېړل شي.

د موضوع لنډ تاریخي شالید :

تر ډېره وخته پورې اوبه نه یوازې په افغانستان کې بلکې په ډېرو ټولنو کې یوه وړیا او پریمانه الهي تحفه بلل کېده، نو ځکه د هغې په هکله ډېر فکر نه کیده، خو ورو ورو اوبو او سیندونو دخلکو په ژوند کې خپل ارزښت ځرګند کړ. یو وخت اوبه د قهرجن ځواک په توګه پېژندل کیدې دا ځکه چې هغه وخت یې دناتوانه انسانانو کورونه او کروندې نړولای شوې، خو د سیندونو په مهارولو سره اوبه د یوې اقتصادي منبع په توګه وپیژندل شوې. په تېره بیا کله چې وګړي زیات شول او کرنیز محصولاتو ته اړتیا زیاته شوه د اوبو او سیندونو

ارزښت هم اوچت شو د صنعت په پرمختګ سره په صنایعو او د بریښنا په تولید کې د سیندونو ارزښت ته پاملرنه وشوه. زمونږ د ټولنې په تاریخ او کلتور کې اوبه او سیندونه ترهر څه مخکې د تندې د رفع کولو، د کور د اړتیاوو د پوره کولو او د کروندو د ښیرازه کولو د یوې اړتیا په توګه ښودل شوي، وروسته بیا د ژرندې په ګرځولو او د سیمو د ښایست لپاره کارول شوي، خو دا چې علمي څېړنې هم د کلتور برخه ده، په علمي څېړنو کې افغانانو ډېر وروسته ګام ایښی دی .

د لومړی ځل لپاره د امیر شیرعلیخان په دوره کې د ډیزلي بریښنا تر سترګو کیدو خلك د بریښنا اهمیت ته ځیر کړل خو هغه وخت بریښنا یوازې د ارګ په ساحه کې وه. د امیرامان الله خان پرمهال دولتي بریښنا د کابل ښار یو شمېر بازارونه روښانه کړل چې وروسته هرات، مزارشریف او جلال آباد کې هم د ډیزلي بریښنا ماشیونه فعال شول د آبي بریښنا د تولید ضرورت د دیرشمو او څلویښتمو کلونو په ترځ کې ډېر احساس شو دا ځکه چې همدا مهال په افغانستان کې لومړني پنځه کلن علمي پلانونه طرح او عملي شول. ددغو پنځه کلنو پلانونو په ترځ کې یو شمېر مهم بندونه په پام کې ونیول شول، چې د هغو د جوړولو موخه نه یوازې د بریښنا تولید،بلکې د کرنیزو ځمکو خړوبول هم و، البته د کرنیزو ځمکو د خړوبولو لپاره په سلګونو کاله پخوا هم په لرغوني افغانستان کې اقدام شوی، لکه دکمال خان بند، بند سلطان، بند غازی او نور خو دا چې په معاصره ټکنالوژي سمبال بندونه مطالعه کیږي نو د هغو څرک د رواني شمسي پیړۍ په دیرشمو او او څلویښتمو کلونو کې و. دا مهال افغانستان په خپله د اوبو د علمي څېړنو مرکزونه نه لرل د سیندونو او اوبو د منابعو لومړنۍ څېړنه FAO ترسره کړه چې دغه سروی د Survey of Land and water resource of Afghanistan ترعنوان لاندې په دریو ټوکونو کې خپره شوه. هغه وخت د اوبود تنظیم چارو د کرنې په وزارت پورې اړه درلوده خو د پلانونو په تطبیق کې د مالیې او فواید عامې وزارتونو ورسره فعاله ونډه لرله.

د لومړی ځل لپاره د کرنې،انجنیري، پولیتخنیك او ځمکپوهنې په پوهنځیو کې د اوبو په اړه څېړنې وشوې د کرنې په پوهنځي کې د اوبو لګولو د مضامینو تدریس پیل شو او په انجنیري پوهنځي کې د هایدرولوژۍ دیپارتمنت علمي څېړنې پیل کړې. خو د څلویښتمو کلونو په ترځ کې د ایران او افغانستان د حکومتونو ترمنځ د هلمند د اوبو په سر د موافقې لاسلیك د اوبو موضوع ته مطلق سیاسي رنګ ورکړ او د افغانستان شاهي دولت یوه رساله

د (موضوع آب هيرمند) تر سرليك لاندې خپره كړه. په هغه وخت كې د سياسي جريانونو مظاهرو او ددغې پېښې انعكاس خلك د سيندونو او اوبو اهميت ته ځير كړل وروسته بيا په دې اړه علمي كنفرانسونه او سيمينارونه هم داير شول خو دا چې « اوبه او په افغاني كلتور كې د هغو څرنګوالی» يې څېړلی وي داسې كومه رساله او كتاب نه تر سترګو كېږي نو ځكه دغه موجوده رساله په خپل ذات كې په دې برخه كې لومړنۍ رساله ده چې « اوبه په افغاني كلتور كې» څېړي خو دا د وخت د كمښت او د لومړي ګام په توګه يو لومړنی ګام دی هيله لرو په راتلونكي كې نور كار هم ورباندې وشي.

يوه تاريخي كتنه :

د تمدنونو د تاريخ څېړنې او د نفوسو د ميشت كيدلو Population settlement تاريخچې دا ښوولې ده چې لومړني لوی تمدنونه لكه د سند، اكسوس، ګنګا، امازون او نور ټول د سيندونو تر غاړې رامنځته او بيا يې لمن خوره شوې ده. زمونږ په هېواد كې هم له ډېر پخوا څخه آريائيانو په هغو ځايونو كې كرنې او مالدارۍ ته انكشاف وركړی چې هلته اوبه ورلنډې وې. آريائيان چې د آمو له غاړو د زمينداور، كسي غرونو او تر سند پورې وپنځېدل، د خپل ژوند لپاره يې د سيندونو غاړې غوره كړي دي. ددې لامل دادی چې اوبه د ژوند د پرمخ بيولو لومړنۍ اړتيا وه او اوس هم ده. له ډېرې پخوا څخه له سيندونو څخه هم د څښلو او هم د كروندو د خړوبولو لپاره كار اخيستل كيده او هم د څښلو او پايكوګانو په فعالولو كې مهمې وې. ورو ورو د كبانو نيول او د اوبو په ذريعه د مالونو لېږدول هم رواج شول.

ولې اوبه مهمې دي ؟

د كائيناتو او بشريت لوی خالق فرمايي :

و جعلنا من الماْ كل شي حی (۱) يعنې هر څه مو له اوبو څخه ژوندي كړل.

---

(۱) د انبيا سوره ، ۳۰آيت

په همدې خاطر طب او نور ساينسي علومو اوبو ته د حياتي مادې نوم ورکړی دی.
هېڅ د حيرانتيا خبره نه ده چې دکيهاني څېړنو په ترڅ کې، د نورو ستوريو په پلټنه کې پوهان تر هر څه مخکې د هغو پرمخ يا د هغو په شاوخوا کې د اوبو د نښو پلټنه کوي. د مريخ د ستوري د څېړنې يوه حيرانوونکې پايله همدا وه ،چې هلته د اوبو د شتون نښې ترسترګو شوې!
لکه چې وويل شول اوبه نه يوازې حياتي ماده ،بلکې مهمه اقتصادي ماده هم بلل شوې ده. له ۱۹۹۲ز کال څخه وروسته په تېره بيا د اوبو په هکله د دوبلن کنفرانس د اوبوپر اقتصادي اهميت باندې ډېر تاکيد وکړ. يو شمېر ساينس پوهانو اقتصاد پوهانو او سياست پوهانو انديښنه ښودلې ده چې ممکن په راتلونکي کې د تيلو پر سر نه، بلکې د اوبو پر سر خونړۍ جګړې وشي. همدا اوس هم يو شمېر هېوادونه د اوبو د کمښت له امله له ستونزو سره مخامخ دي. د امريکې متحده ايالتونه هر کال په ميليونونو ډالره د څښلو اوبو د چمتو کولو په خاطر لګوي. ايران په کويټ باندې د خپلو غرونو د واورو د اوبو د خرڅولو له مدرکه ډېر ه لوړه ګټه ترلاسه کوي. اسرائيل خپلې اوبه له ترکيې څخه پيري او داسې نورې بيلګې . موږ له اوبو څخه نه يوازې د څښلو په خاطر بلکې د کرنې، مالدارۍ، صنايعو، سوداګرۍ، د بريښنا د توليد، د کبانو روزنې او داسې نور و چارو لپاره کار اخلو. په اوبو پورې د انسانانو دژوند همداسې تړلتيا دغه حياتي ماده د بشري فرهنګ يوه تلپاتې برخه ګرځولې ده .

طبيعي سرچينې ددغو ځانګړنو او اړانو پربنسټ څېړل کيږي:

۱ـ فزيکي اړانه Physical Framework :

دلته هدف دادی چې د يوې اقتصادي منبع اندازه معلومه شي دلته انسان ځان په هغه چاپېريال او ماحول کې مومي چې دده شاوخواته شته او د ډول ډول منابعو مقدار کمې اوکيفي خصوصياتو او نورو ته ځير کيږي. اقتصاد پوه په دغې اړانه يا د مطالعې په دغه چوکاټ کې د مربوطه منبع فزيکي خواص لکه اندازه، موقعيت، ظرفيت او نور مطالعه او تشريح کوي.

۲ـ اقتصادي اړانه Economic Framework :

دلته د يوې طبيعي منبع اقتصادي اړخونه مطالعه کيږي او زياته پاملرنه دې ته کيږي،چې محدوده، قيمتي او د لوړ ارزښت لرونکې منبع په څه ډول د بېلا بېلو اهدافو لپاره ځانګړې

شي. آیا داړونده سرچينې څومره برخه کارول کيږی .دغه منبع څومره خپل فزيکي چوکاټ ته ورنژدې شوي ده او داسې نور. نيکمرغه ټولنه هغه ده چې د خپلو منابعو اقتصادي چوکاټ يې له فزيکي هغه سره برابر وي، يعنې څومره اندازه منبع چې لري هغو باندې يې کار کړی وي او ترګټې اخيستنې لاندې يې راوستې وي.

۳ـ مؤسساتي اډانه Institutional Framework :
دلته د ټولنې په کلتور کې د مربوطه اقتصادي منبع ونډه، ارزښت، او د هغې په هکله د خلکو نظر په ملي کلتور کې د منبع انعکاس د منبع ارزول دخلکو په دود – دستور، په قوانينو کې د هغو درج کول مذهبي احکام، متلونه او نور راځي. دغه چوکاټ د وګړو او ټولنې هغه انګيرنې ارزوي چې د يوې سرچينې په هکله يې لري. له دې څخه دا ثابتيږي چې خلك، اړوند هېواد او ټولنه تر کومه حده پورې داړونده سرچينې په ارزښت پوهيږي او په خپلو دودونو، قوانينو، فولکور، ادبياتو او عقايدو کې هغې ته څومره ارزښت ورکوي.
الله(ج) خپلو بنده ګانو ته حکم کړی دی چې پر ځمکه باندې چې کوم سيندونه، ونې او کرنيزې ځمکې دي له هغو څخه بايد استفاده وشي او هغه ستاسو لپاره جوړ شوي دي مثلاً د الرعد سورې دريم آيت فرمايي :
وهوالذی مدالارض و جعل فيها روسی و النهاراً و من کل اثمرات . په دغه آيت کې د اوبو د ويالو ذکر شوی بل ځای فرمايي :
و انزلنا من السماء ماء سجاجاً . يعنې مونږ له وريځو څخه تاسې ته پوره اندازه اوبه برابرې کړې دي . حضرت محمد مصطفي (ص) د اوبو او ويالو په هکله ځانګړې هدايات ورکړې و و . د خلفای راشدين په دوران کې د الانبار په شان د اوبو لوی لوی بندونه جوړ شول.
د خلکو په دود – دستور، فولکور، انګيرنو، نکلونو، متلونو او رواياتو کې د اوبو په هکله په زړه پورې نظر او تفکر شته، د اوبو په هکله، سره له دې چې د عامو خلکو معلومات ډېر لږ دي، خو بيا هم هغوی دغې مهمې طبيعي – اقتصادي منبع ته په يو داسې نظر کتلي دي چې له علمي پلوه هم اوچت ارزښت لري، ډېره ګټوره او په زړه پورې ده، چې په افغاني کلتور کې اوبه وخيږل شي.

دلته د لنډيو حق تر ټولو دمخه دی.

۱ـ په لنډيو کې اوبه، ګودر او سيند
اوبه د برګودر خوړې دي
جانانه ستا لپاره کوز ګودر ته ځمه
لمده خيشته ګودر نه راغله
لکه بلبله چې باران وهلی وينه
ګودر ته مه وايه چې وران شې
ګودر کې کېږي د مينو ديدنونه
ګودر د پيغلو جماعت دی
امام يې نشته مخ په لمر ولاړې دينه
پاس په کمره ولاړه ګله
نصيب د چاپې اوبه زه در خيژومه
کودر د پغلو پارلمان دی
بوتلې نشته په منګو ويشتل کوينه

لنډۍ نه يوازې دا چې ډېره ښکلا لري بلکې محتوا يې هم د يوه قوي پيغام لرونکې ده. لنډۍ د پښتنو د فولکور مهمه برخه ده او فولکور يعنې د ولسونو او خلکو ادب د يو هېواد د کلتور مهمه برخه ده. په فولکور کې ولسونو خپلې هيلې او آرمانونه، ستونزې، چاپېريال او تاريخي پېښې څرګندې او ساتلې دي. يوه برخه يې ددوی مهمې اړتياوې او د ښکلا خوښوونې (استيتک) عناصر جوړوي.

اوبه او سيندونه که له يوې خوا اړتيا ده له بلې خوا سيند، د سيند غاړه او ګودر يو ښکلاييز او د مينې سمبول هم دی. يو ولس که څومره له مادي پلوه بډای وي معنوي غنا ته هم احتياج لري نو سيندونه او اوبه چې مادي شمتني او طبيعي اقتصادي مهمه سرچينه ده ولسونو هغه په خپل فولکور کې ستايلي دي. فولکور، او په فولکور کې ستايل شوي ارزښتونه د ټولنې اقتصادي ژوند پياوړی کوي او د اقتصادي تدابيرو او فعاليتونو لپاره هڅوونکی رول لوبوي. په زړه پورې خبره داده چې زموږ په فولکور کې اوبو او سيند يعنې حياتي او اقتصادي مادې غوره ځای لرلای دی. د فولکور دغه برخه د هغو بډايو کانونو په شان دي

چې له جواهراتو ډک وي، دغه جواهرات چې څومره له عادي تېرو څخه رابېل شي زمونږ د اقتصادي فعالیت او راتلونکو ښیرازه کوونکو پلانونو لپاره تقویه کوونکي ارزښت پیدا کوي.

۲ـ متلونه

اوبه په ډانگ نه بیلیږي

اوبه له پاسه خړې دي

اوبه د لوښي له مخې څښل کیږي

ژرنده په اوبو گرځي

اوبه چې په سر واوړی څه یوه نیزه څه سل نیزې

له ورخه وتلی اوبه بېرته نه راگرځي

اور او اوبه نه سره جوړیږي

په ویاله کې چې اوبه تللي وي بیا هم ځي

اوبه یوګوټ وي

۳ بدلې او نارې

شین خالی اوبو ته لاړه

سور منگی راوړي په غاړه

د کیږدۍ پېڅول یې ښوري

شین خالی پټه را گوري

۴ دوه پاړکیزه او درې پاړکیزه سروکي :

اوبه درته راوړم سابه درته پخوم

یاره ځم درسره خونه دې ورانه شي جوگي

***

اوبه دې وړینه

پاڅه لالیه مازیگر دی اوبه دې وړینه

***

پانې د گور گورې

نرۍ نرۍ اوبه راځي ما ډوبوبیه

***

د باغ هلکه

اوبه را پریده کشمالي اوبه کومه

***

د سین په غاړه باندې تلمه شمشتی وخوړم

غم د لیونی وخوړم

***

د سین غاړه زما ساړه کیږي آشنا

راځه غاړه په غاړه زما ساړه کیږي آشنا

***

شبنم دانې دانې

دانې دانې یې په لمن کې ټولومه

***

کشمالی ګله باران وریږي

باران وریږي سالو ګی مې لمدوینه

***

مړ شومه له تندې ډېره لرې چینه ګی ده

وچه مې خولګی ده

***

وه یاره مینه

اوبه یې راوړې د مېملې له چنارونه

وه یاره مینه

***

چې مازیګر اوبو له ځې زما سودا شي

را ماته به دې ملا شي

چې غبرګ منګی راوړې

***

وخت مازیګر دی سیل په ګودر دی

او جنکی اوبو ته ځینه

۵ د ماشومانو په سندرو کې:(باران،د شنه اسمان تمه،اوبه او سیند) یادونه

نرۍ نرۍ باران دی

ورور مې را روان دی

د کټ لاندې پیشو ده

پیشو ته وایم پشتې

موږکه سترګې مه شې

×××

بارانه مه وریږه

پاس په کمره وریږه

د لاندې شولې دي

جینکۍ ټولې دي

یوه پکې خندانه ده

سل روپۍ ارزانه ده

×××

اوري باران اوري

د چرګې لکۍ ښوري

موږک په غونډۍ ناست دی

د مستو غزلې بولي

×××

بارانه و وریږه

په شین کبل وریږه

د شین کبل لاندې

واړه واړه خانان دي

غوښې کچالان دي

×××

نرۍ نرۍ اوبه بهیږي

مورې خوږې مورې

ګل بندۍ پکې پرته
سرې لښتې دنګه غړې
مورې خوږې مورې اوبه بهيږي
×××
يا الله شين يې کې
د شين غوايي پتون يې کې
اوسپنه توده کې
فيرنګي په جنازه کې
بچی يې په تخته کې
×××
لمن لمن مه وهه باران دی
لمن به دې لمده شي
کميس دې د الوان دی
سينه به دې ښکاره شي
×××
زيړې نرۍ وريځې
دا کلا د چا ده
د مومن خان ده
پکې ناسته ده ايلۍ
الا شرنګه ډبيلۍ
×××
لا ډنګه څه غواړي
لا ډونګه کونډه ده ميړه غواړي
د اسمان خړې اوبه غواړي
د مځکې شنه واښه غواړي
لاډونګه يوه کاسه اوړه غواړي
په مالګه يې تروه غواړي

×××

خدایه باران وکړې

الله آمین

خدایا زوی ورکړې

الله امین

خدایا کال اباد کړې

الله امین

خدایا غنم شنه کړې

الله امین

خدایا ورکړې دونه وزې

لکه لښکر لکه نیزې

الله امین

خدایا ورکړې دونه غوا

لکه لښکر لکه هوا

الله امین!

**۵ انګېرنې**

په افغاني کلتور کې د اوبو په هکله په زړه پورې انګېرنې شته چې له هغو یوه عامه انتباه او پایله اخیستل کیږي او هغه دا چې اوبه د صفا، خلوص، برکت، نرمي او پاکي سمبول بلل شوی د بیلګې په توګه که چیرې د چا مخې ته اوبه چپه شي، یا د اوبو لوښی ورڅخه تش شی نو ورته په خوښۍ سره ویل کیږي چې «رڼا یې ده»

کله چې څوک په سفر ووځي نو په کور کې پاتې خلک هغه پسې اوبه شیندي، چې سفر یې په خیر او له برکت څخه ډک وي.

کله چې څوک نوې میاشت ووینی ډېر ژر جام کې اوبه را غواړي پۀ هغه کې لاس لمدوي او هڅه کوي په اوبو د نوې میاشتې (سپوږمۍ) بنګړه وګوري او بیا دوعا کوي.

عوام ترې ته اوبه ورکول تر ټولو لوړ ثواب ګڼي.

کله چې په کليوالي سيمو کې څاروي نوی واخيستل شي کورته له رانوتو سره اوبه ورباندې شيندي. عوام خلك انګيري چې د خواشينی، غوسې او خپګان په شيبو کې د سيند غاړې ته تلل خواشيني کموي او غوسه هيروي.

۶ دودونه :

عنعنه او رواج، دود – دستور يوه تجربه شوې ښکارنده ده، چې په ولس کې د يوه حکم، عمل، وينا د يو کار د طرز د تکرار اوله يوه نسل څخه بل نسل ته له پاتې کېدو نه يوازې ژوند بلکې قوت مومي د بيلګې په توګه ډېر پخوا خلکو ته ثابته شوه چې په يو شمېر چينو کې لمبل يو شمېر ناروغۍ له منځه وړي،د ټاکلو چينو يا کاريزونو د اوبو څښل شفا ورکوونکې ځانګړتيا لري او داسې نورې بيلګې. ددغې تجربې په ثقه ډول اثبات کيدو سره دا دود تر نن ورځې شته، چې ناروغان چينو ته بيول کيږي اوهلته يې وروسته تر لمبلو په روغتيا کې ښه والی راځي دا چې د نن ورځې علومو دا ثابته کړې ده چې دا د يو شمېر هغو منرالونو اغيزه ده چې د نوموړو چينو په اوبو کې شته، مونږ دا نه څېړو، خو د حيرانتيا خبره داده چې دغه دود او يو شمېر نور دودونه علمي بنسټ لري. پخوا به عربو د څاګانو د کيندلو د ځای د غوره کولواو اوبوته د لاسرسي په هيله اوښان په ازاد ډول پريښودل کوم ځای کې به چې اوښ ګونډ ه ووهله يا به يې هغه ځای په پښه وګراوه، نو هلته به هرومرو په ډېر لږ ژورتيا کې اوبه ترلاسه کيدای شوې. د عربو ددغه دود لامل اوس علم ثابت کړ او هغه دا چې اوښ د نورو حيرانوونکو ځانګړتياوو ترڅنګ يو داسې حس هم لري، چې د زمکې په ژوره د اوبو د موجوديت خبر ورکولای شي زمونږ په کلتور کې يو دود دا هم و، چې کله به چا ښه خوب وليد نو هغه به يې اوبو ته وايه چې هرومرو رېښتيا شي!

اوس هم چې چاته ووايې : داسې يا هسې خوب مې ليده نو درته وايي: ښه دې ليده ، اوبو ته يې ووايه خدای به يې ښه کړي ، په دې اړه د يوه معاصر شعر دا برخه وګورئ:

..... بيګاه شپه بيا په خوب کې وويرېدم
او چې له چيغې سره پاڅېدمه
د خپلې مور خبر را ياده شوه چې
«سم له سهار سره چينې ته ولاړ شه
او خوب رښو اوبو ته تېر کړه يو ځل
خدای به يې ښه کړي درته» .

خودغه خوب وم ویرولی دومره
چې تر سهاره تم کیدلی نه شوم
په نیمه شپه کې تر چینې ولاړمه
چینه په توره شپه کې
ځلیده داسې سپینه
لکه زما د ذهن سپینه پاڼه.......

د بزرګرانو له خوا د ویالې، اوبو او د اوبو د ویش په برخه کې د میراو ټاکل او هغه هم په انتخابي توګه یو بل دود دی ،چې اوس هم تر سترګو کیږي همدغه میراو پسرلی د ویالو او بندونو د جوړولو چارې تنظیموي او په اوړی کې د اوبو د ویش واک لري.

د اوبو او سیندونو په اړه یو بل دود داو، چې هغه د برکت او پریمانۍ د سمبول په توګه منل شوي دي، د بیلګې په توګه کله چې د چا غوا د لومړي ځل لپاره لنګه شي د هغې د لومړي ځل لوشلو ډېرې لږ شیدې روان سیند ته وراچوي دوی عقیده لري چې د غوا شیدې به ډېرې شي.

اوسمهالي ادبیات او اوبه اوسیند :

زمونږ اوسمهالي پښتو او دري ادبیات په داسې مهال کې لیکل شوي او خپاره شوي دي چې د شلمې پیړۍ د ساینس او تکنالوژۍ دوران و، ددې تر څنګ په دغه دوره کې د ویښتیا، خوځښت، انقلابونو، د خپلواکي ولولو، وطن سره دمینې احساسات د ملي ارزښت د ځلولو جذبات او تر ټولو زیات د ترقي او د هېواد آبادولو احساس تر سترګو کیږي. تصادفاً یا په ځان خبري توګه په دغو ټولو کې سیند او اوبه په یوه بڼه نه په یوه بڼه ځان څرګندوي. په معاصرو ادبیاتو کې د ډېرو سیندونو نومونه لکه اباسیند، آمو، هلمند او نور د ملي غرور، عصیان، سرکشي او افغاني ملي غرور سمبولونه راغلي دي، ډېرو معاصرو شاعرانو د خپلو شعري ټولګو نوم د همدغو سیندونو له نوم څخه غوره کړی یا په یو شکل د اشکالو یې په شعرونو کې تر سترګو کیږي. په نثر کې هم همدا بیلګه تر سترګو کیږي. د پښتو د فلسفي او انقلابي شاعر غني خان غني یو اوږد شعر داسې دی :

چې ماښام دې راځي خواله
عاشقان غمګینې سترګې
جینکۍ درته ګلډېرې

بلې سترګې سره لاسونه
کله ډوب لکه د غم زه
لکه مست زلمی ګډېږه
سینده څه سینده بهېږه – سینده څه  سینده بهېږه

دی ته ورته همداسې يو شعر په دري ادبياتو کې لرو
آخر ای دریا
تو همچون من دل مستانه داری
شور درسر
عشق دردل
نعره ی مستانه داری
دریا
ګه به سان شمع سوزی
ګه پر پروانه داري
نوای عاشقانه داری
د نثر په برخه کې :
استاد الفت د پښتو ژبې د معاصر نثر لوی فلسفي ليکوال او استاد دی نوموړي د سیند په نامه دغه  په زړه پورې خوږه او له عبرت څخه ډکه ادبي ټوټه ليکلی ده  :
سیند
« د وچو ډاګونو د دښتو او میرو له څنګه لوی سیند بهیږي مګر دغې و چې بیدیا ته اوبه نه ورکوي. په دغسې وچکالۍ کې چې په اوبو باندې سرونه ماتیږي سیند لکه شوم بخيل په شتاب درومي او زموږ تندې  ته نه ګوري.
کله چې سیند په چپو راشي کورونه او اباد پټي هم له ځان سره یوسي. همدغه سیند له موږ هغه خوا بل راز روان دی او له نورو سره يې رويه بل راز ده. هلته دغسې ورانۍ نه کوي. دومره بخل نه لري دغه راز بې رحمي پکې نشته  هلته د سیند په غاړه زر شویان د سیند له شګونه زر را باسي.

ماهیګران په کې په خروارو کبان نیسي او ښکاریان یې په لوی او ستر ډنډ کې هیلۍ ولي. هلته له سیند نه ډېرې لویې ویالې بیلې شویدي، ډېر لوی لوی ډاګونه له اوبو لاندې شول. کلي او ښارونه اباد شول.

شاړې ځمکې په ثمر راغلې، د غلو او میوو پکې څه کمی نشته. هلته د سیند په مخکې لوی لوی بندونه جوړ شول. د بریښنا ماشینونه ودریده، فابریکې او کارخانې په کارو لویدې، خلك اباد او ماړه شوه.

دا سیند ولې دلته دغسې او هلته هغسې دی.

موږ ته په قهر دی او په هغوی پیروزینه لري، دلته ډېر تند او په خیزو  روان دی، هلته غلی او ارام بهیږي.

دلته کوږ وږ ځي او هلته مجرا بدلوي، هلته پخپله ټاکلي لاره روان دی او بې لارې نه ځي، په رښتیا چې سیند دلته ډېر ورانی کوي او هلته د یوه نظام او قانون تابع دی چې ورانۍ ته یې نه پریږدي.

زموږ ګناه د سیند په غاړه ده، سیند له موږ نه ډېر څه وړي دي او ډېر یې رانه وژلي دي، دا سیند خوني سیند دی او له موږ سره یې زړه دښمني ده، څو ځله یې زموږ کورونه وران کړي او اباد پټي یې رانه په وارو وارو وړي دي.

زموږ ټوله ګناه د سیند په غاړه ده. سیند زورور دی او په موږ باندې هر وخت ظلم او تیری کوي.

آه – موږ څومره ناپوه یو چې دغه راز فکر کوو او پخپله ګناه نه پوهیږو موږ خپله ګناه د سیند په غاړه اچوو، د سیند په غاړه خو موږ پراته یو په رښتیا چې دا زموږ ګناه ده، د سیند نه ده.

سیند له چا سره دښمني نلري، سیند هر تږي ته اوبه ورکوي او د هر چا خیرنې جامې پاکوي. سیند پوخ کار غواړي او پاخه بندونه ورته په کار دي. که زموږ کار پوخ وای او زموږ بندونه پاخه وای زموږ ویالې نه وچیدې او زموږ پټي اوبو نه وړل.

موږ د سیند په بندوبست پوه نه شو او له سیند نه مو کار  وانخیست. دا سیند د ژوند او حیات سیند دی په ده کې د ورانۍ او ودانۍ دواړه قوتونه موجود دي. سیند د هر چا طرف او استعداد ته ګوري هغو ته اوبه ورکوي. د منګي خاوند او د منګوټې خاوند ته سیند برابره برخه نه ورکوي اونه وړو لښتوته د لویو ویالو په اندازه څه ورکولی شي.

سیند د هر چا کار ته ګوري او هغسې ورسره کوي یعنې خام بندونه ورانوي او پاخه بند ته ځان تسلیموي. هغه څوک چې د ژوندانه سیند پخپل سر پرېږدي او یوه سمه مجرا ورته نشي ټاکلی له ژوند نه استفاده نشي کولی».

د اوس مهال لیکوال ښاغلي اکبر کرګر د خپلو لنډو کیسو د یوې ټولګې نوم « سینده څه، سینده بهېږه» غوره کړی دی. په دغه ټولګه کې یوه لنډه کیسه د « اهریمن د ورځې هم لیدل کېږي ...» عنوان لاندې ده چې په لرغوني سیستان کې یې یوه تاریخي پېښه په هنري نثر راوړې او په دغه لنډه کیسه کې د سیند، آبادي، اوبو لګولو او اوبو تصویر په ډېره ښکلی بڼه انځور کړی.

د کلتور او فرهنګ ویې بڼ یوازې په ادبیاتو پورې نه دی ایسار، په دې کې انځورګري، سپورت، سیاحت، موسیقي او فلم هم راځي افغاني ګڼ شمېر انځورګرانو او له هغې ډلې څخه پروفسیور غلام محمد میمنګی د سیند او د سیند د غاړې په انځورولو خپلې تابلوګانې ښکلی کړي دي. زمونږ د موسیقي له نیمایي زیاته برخه د ګودر، سیند او باران له سندرو جوړه ده آن دا چې په یو شمېر سندرو کې د اوبو او باران غږ له موسیقي سره اوریدل کېږي لکه :

دخوږ غږ لرونکي ایوب استاد سندره : وخت مازیګر دی جینکی اوبو له ځینه

د احمد ظاهر سندره : آخر ای دریا

د احمد ولی سندره : نرۍ نرۍ اوبه راځي، ما غرکوینه لالیه ګل مې واخله

د نازیه اقبال سندره : نرۍ نرۍ باران

دناشناس سندره : شیرین عمر چې تیریږي دریغه دریغ های داوبو په څیر بهیږي دریغه دریغ ...

د رخشانی سندره : شبنم دانې دانې ...

په افغاني فلمونو کې د ارمان، فرار، خانه ۵۵۵، طلبګاري، دختری با پیراهن سفید، مزرعه سبز او ګڼ شمېر نوروفلمونو کې سیند اود اوبو د فلم د صحنو ښکلا زیاته کړې ده نن ورځ ګڼ شمېر ښکلې منظرې او عکاسي د سیند د غاړو انځورونه دي ګڼ شمېر کمپیوټرې کمپنیو د خپلو کمپیوټرونو د سکرین لپاره سیند یا د سیند د غاړې انځور غوره کړی دی.

قوانین، مقررات او فرامین هم په مؤسساتي چوکاټ کې راځي. د افغانستان د ۱۳۸۲ش کال اساسي قانون په خپل لومړی څپرکي او (نهمه) ماده کې لیکي :

کانونه او نورې زیرمې د دولت ملکیت دی او د دولت د ملکیتونو ساتنه او اداره او له طبیعي زیرمو او نورو عامه ملکیتونو څخه د سمې استفادې ډول د قانون له لیارې تنظمیږي.

د اساسي قانون پورتنی ماده توضیح کوي، چې طبیعي منابع لکه اوبه، ځنګلونه او کانونه د دولت تر واک لاندې دي. په دې کې دهېواد روانې اوبه او سیندونه هم راځي چې له هغو څخه د کار اخیستنې پالیسي. په هغو باندې سیندونه جوړول او د بریښنا تولید د دولت صلاحیت او واک دی.

د افغانستان په پخوانیو قوانینو کې هم اوبه او سیندونه عامه ملکیت او ملي شتمني پېژندل شوې وه هغه لویه جرګه چې په ۱۳۰۱ش کال په پغمان کې د لومړني قانون ( نظامنامې) په هکله دایره شوې وه په هغې کې هم د اوبو په هکله ځانګړې سپارښتنه شوې وه.

لنډیز او پایلنیونه

اوبه یوه حیاتي ماده ده دا چې اوبه، سیند او باران په کلتور کې په پراخ ډول انځور او منعکس شوي، په خپله ددې ښکارندویي کوي چې ټولنې، چاپېریال او ژوند کې د اوبو ارزښت ډېر اوچت دی او ډېر و پخوانیو نسلونو د هغو ارزښت په کلتوري بېلابېلو بڼو تر موږ پورې را رسولی دی په زړه پورې خبره خو په کې داده چې په افغاني کلتور او فرهنګ کې اوبه د برکت،ښکلا ،پاکی، نرمښت، یووالي، زغم، ښیرازۍ او سپېڅلتیا سمبول دي او دایې هم راته ښوولې، چې که په لازم وخت بیل پسې وانه خیستل شي په سیلاو هم بدلېدای شي او دا هم وایي چې په تللو اوبو پسې بیل اخیستل ګټه نه لري، خو وریځ او ګودر بیا هم مفاهیم دي چې یو یې ژور اقتصادي محور او بل یې د مینې سمبول شوی دی.

د ټولنیزې او اقتصادي اړتیا له مخې اوبه دوه ګټې لري :

۱ـ محسوسې ګټې : دا هغه څه دي چې احساس کیږي لکه د انسان او څارویو د تندې ماتول، د کروندې او باغ خړوبول، دچاپېریال شنه او ښیرازه ساتل. د ګټې او ارزښت له مخې ساینس ثابته کړې ده چې یو انسان د ورځې درې لیتره اوبه څښنې خو د مینځلو، پخلي او حقیقي اړتیا لپاره یوانسان په یوه ورځ کې ۱۵۰لیترو اوبو ته اړ دی. لکه هغسې چې د انسان د وجود په سلو کې ۴۰ برخې اوبه دي په نباتاتو کې هم د دوی زیاته برخه اوبه دي، چې دا د هغوی د ودې په حالت پورې اړه لري یوه ونه په یوه ورځ کې ۷۰ لیترو اوبو ته

اړتیا لري که زموږ په څښاك او خوراكي توكیو كې د اوبو لږ کمښت راشي ژوند له ګواښ سره مخامخ کیږي په نني عصر کې هر څه د تعویض کېدو وړتیا لري د قیمتي عناصرو پر ځای په لابراتوار کې مصنوعي عناصر تولیدیږي، وسپنه په پلاستیک تعویض شوه تیل او ګاز د لمر په انرژۍ تعویض شوي، خو پاکې اوبه او سیندونه په هېڅ شي تعویض کېدای نه شي او سیندونوته اړتیا لا هم مخ په زیاتېدو ده . له همدې امله د سیندونو اهمیت له اقتصادي ډګر څخه سیاست ته رسیدلی دی. نن د علومو او د ریسرچ او څېړنې ډېره برخه د اوبو په برخه کې سرته رسیږي.

۲ـ غیر محسوسې ګټې : زموږ د کلتور په ویړبڼ کې د اوبو غیر محسوس اړخ لا ښه غبرګون مومي غیر محسوس ارزښت هغه دی چې په سیده توګه نه احساس کیږي او نه هم په سترګو لیدل کیږي غیر محسوس ارزښت لکه د چاپېریال تازه او پاک ساتل، په اقلیم باندې اغیزه، د سیمو په ترقي کې د هغو رول، د وحشي ژوند بقا او نور، په ټوله نړۍ کې اوبه هغه ماده ده ،چې تر ټولو نورو مادو زیاته مصرفیږي او بشریت د هغوی له مصرف پرته هېڅ چاره نه لري یو هېواد هغه وخت وروسته پاتې بلل کیږي چې له خپلو اوبو څخه ګټه نه شي اخیستلای . یو هېواد هغه وخت د اوبو د کمښت له فشار سره مخامخ بلل کیږي چې سیندونه یې بې د ګټې اخیستنې له لاسه وځي او د اوبو کلنۍ اندازه یې هر وګړي ته په یو کال کې له ۱۷۰۰مکعب مترو څخه کمه وي د اقتصاد علم وایي چې په تکنالوژي او ماشین کې اوبه سړوونکې او لمدوونکې ماده ده خو غوړي او تیل او ګریس، غوړوونکې ماده ده، اما د یوه هېواد په ترقي کې اوبه هم لمدونکې او هم غوړونکې ماده ده!!

راتلونکو لسو کلونو کې یعنې تر ۲۰۲۰زکال پورې به په نړۍ کې اوبو لګښت په سلو کې ۴۰ زیات شي بشریت به د موجودو اوبو په سلو کې ۱۷نورې په لوړ اقتصادي مصرف ځانته برابروي یو شمېر نظرونه وایي چې تازه، روانې، خوږې اوبه باید د بشر په حقوقو کې د یوې جلا مادې په توګه اضافه شي د روغتیار نړیوال سازمان وایي چې هغه سیمې چې روانې اوبه لري په هغو کې راز راز ناروغۍ ډېرې لږ وي، خو اقتصادي عواید یې اوچت وي، خوراکي توکي، چې عمدتاً زراعتي تولیدات دي، په سیندونو پورې اړه لري .له دې پرته په اوبو کې هم یو شمېر اقتصادي منابع او له هغې جملې کبان شته زموږ په کلتور کې کبان تر ټولو پاک خواړه بلل شوي، آن چې خوړل یې ثواب لري زموږ په کلتور کې یو تن باید

کم له کمه کال کې یو ځل دکبانو غوښه وخوري، په دې توګه له اوبو څخه ګټه اخیستل متصوره ده.
پاکې اوبه نه یوازې د ناروغۍ مخه نیسي بلکې ګڼ شمېر ناروغیو علاج هم کوي.
د بشریت په تاریخ کې سیند او کوهي خپل ارزښت درلود او لري یې چې اوسنې ساینس او هایدرولوژی علومو کې یوه د ځمکې د مخ روانې اوبه او هم یې ځمکې لاندې داوبو منبع بلل کیږي زموږپه هېواد کې ۱۲میلیونه هکتاره ځمکه د کرنې وړ ده خو د اوبو د نشتوالي له کبله یا شاړه پاتې ده او یا نورو استعمالولو لاندې راځي لکه ښارونه، صنعتي تاسیسات او رهایشي او ترانسپورتي استعمال ټول په زراعتي ځمکو ور روان دي که له اوبو څخه استفاده وشي دغه ناوړه پېښه به ودرېږي دا هغه ناوړه کړنه ده چې د افغانستان راتلونکی نسل له تباهې سره مخامخ کوي که مونږ یو شمېر سیندونو ته بندونه جوړ او له هغو څخه کانالونه وغځوو ۵.۳میلیونه هکتاره ځمکه تر کرنې لاندې راتلای شي، او دا د افغانستان نفوسو ته کافي غله، سابه، میوه او د مالدارۍ ترقي ته امکانات برابروي په دې توګه د اوبو مطالعه هم اقتصادي، هم کلتوري اوهم علمي ارزښت لري چې باید افغانان ورته ځانګړې پاملرنه وکړي.
د پنجشیر سین ته!

کاوون توفاني

اې د پنجشیر لویه او مسته سینه
بیا دې سینه کې توفانونه خوځي
بیا دې څپره له قاره خړه ښکاري
بیا دې په زړه کې کوم غمونه خوځي؟
چاته په قار یې چاته سر ښوروي
چاته غړمبیږي چاته زور ورښیي
چاته غوغا کوي او چاته ژاړې
چاته د مستو څپو شور ورښیي
چې دومره تند او توفاني روان یې
چې غورځنګونه دې وطن ښوروي
چې هره چیغه دې سکوت ماتوي

چې هره منډه دې قوت زېږوي
هره څپه دې د غضب څپېړه
هره ناره دې د ژوندون سندره
هر شور ما شور دې د ولس حماسه
هره سندره دې د یون سندره
له هرې تېږې سره سر جنګوي
هرې ډبرې ته جزا ورکوی
په توره شپه کې د توفان مرغه ته
زیری د فتحې د سبا ورکوي
پنجشیره زړه مې لیونی غوندې شو
ستا د موجونو آشنایي غواړي
له دې خاموشه او بې شوره ژونده
نور نو بېلیږي جدایې غواړي
ستا د ککرې له بې سارې شوره
زما مغزونو ته هم شور ورکه
دې لا لهنده لیونی زړه ته مې
د یوې مستې چیغې زور ور که
د هندوکښ د جګو څوکو زویه
هره قطره کې دې توفان وینمه
ستاد هر څاڅکې په روښانه زړه کې
د خپلو هیلو روڼ جهان وینمه
راځه چې ښکته اباسین ته یوسو
د ستر آمو د توفانو ترانه
دغه د ژوند او د تکل سندره
دا د هلمند د غورځنګو ترانه
راځه چې مست کړو لیونی اباسین
دا توفاني او خونړۍ اباسین

دا د ننګونو او جنګونو راوی
دا تاریخي او پخوانی اباسین
دا د کوکچې د توفانو آشنا
دا د کنړ د سیلاوونو آشنا
دا د پامیر او هندوکښ د غیږې
د سترو سترو قدرتونو آشنا
څو چې آزاد کړي د پیړیو اسیر
څو چې را ویښ کړي د عمرونو ویده
څو چې د ژوند جګړې ته وهڅوي
په شپو ښکیل شوی د کلونو ویده
څو چې په ښکته پورته لوی وطن کې
د نوي ژوند، نوې نغمې خورې شي
څو چې د سرې مینې له سرو غمیو
په سپیرو دښتو سرې شغلې خورې شي

د سین سرود

سلیمان لایق

پیړۍ، پیړۍ تېرې شوې او دا مغرور سین دهندوکښ په تاو راتاو درو کې لا خپله انقلابي حماسه بولي :

« تل زما په څپو کې د خوځېدو، منډې او یرغل قوت ژوندی وی، زه د سمندر د څپو ټکرو او د لمر وړانګو زیږولی یم؛

زه د زو رو او سترو توفانونو په زانګو کې روزل شوی یم؛

ماته ستا تالندې، بریښنا او یاغی بادونو للو ویلې ده؛

ما د سمندر په تیار ولتو کې له نهنګانو او سترو کبانو سره لوبې کړیدي او د ازادو وسیلیونو بولۍ لاندې مې له ساحلي غرونو، کمرونو او ځنګلونو سره غیږې نیولي دي؛

زه دا ستواګرمیو او قطبي یخنیو ازمویلی یم؛

ما د توفان په منګولو کې زړور ماهوګان ليدلي دي چې څنګه د وحشي او قهر جنو څپو تر يرغل لاندې په سړه سينه د خپلو هدفونو خواته خوځېږي؛
ما د پرمختلونکي انسان د زړه قوت او د سترګو بريښنا ازمويلی ده؛
داسې انسان تر ترږمی او توفان ډېر پياوړی او تر بريښنا او تندر خورا چټک دی.»
« زه د ګړندوی وريځو په وزرونو باندې له هوا او سمندرونو نه د لوړ هندوکښ څوکو ته را وختم، دلته مې د وريځو له مستی، د بادونو له ترندی، د باز له ګړنديو جګېدو او د سيلاب له هيبتناکو کوزيدو نه نوې حماسه زده کړه؛
زما ددې حماسې قهرمان هماغه زړور او پياوړی انسان دی کوم چې واورو، بادونو او سيلابونو را چاپېر کړی، مګر سر نه ټيټوي او نه تسلميږي؛
زه له همدې انسان نه الهام اخلم او په ناآزمويلو لارو، کمرونو او درو کې لاروهم او د بحر خواته خوځېږم؛
زه قدم په قدم خپله حماسه تکراروم؛
بايد د سيندونو اوغرونو حماسه يوه شي؛
بايد ټولې سندرې، ټول سرودونه او ګردې حماسې يو شي؛
بايد ټول مقدس غضبونه، ټولې کوکې او فريادونه، ګردې څپې او درست توفانونه سره يو شي او په ګډه د نوي، زړور او انقلابي انسان د زغم، جرأت او پرمختللو حماسو بشپړه کړي؛
زه د څپو، توفانونو، ځغاستو او ژوند استازی يم؛
ځکه د آزاد انسان د خوځېدو، پرمختګ، يرغل او رزم حماسه بولم؛
غر اوهواره، سين او بحر، باد او باران ... دا ټول د زيار ايستونکي انسان د سترې جګړې حماسه بولي.
د انسان هڅه او جګړه، د انسان تکل او يرغل، د انسان ژوند او هدف تر ټولو لوړه حماسه او تر هرې سندرې ښکلې سندره ده.
او زه به تل دا سندره ژوندۍ او سپېڅلې وساتم!»

باران ته

اسحق ننګيال

بارانه! ووریږه ووریږه
چې سارا یې ګلونه
د وچکالی خپیږه ورژول
او دغوټیو شونډې
د سرو ټناکو په ځولیو کې ټالونه وهي
بارانه! وویږه ووریږه
چې مساپرې مرغی
د وچو دښتو په سپیرو شګو کې
تشې دانې لټوي
او له زخمي وزرونو
تمه د سترو پروازونو لري.
بارانه! ووریږه ووریږه
چې د اغز یو لښکر
د تورو شپو په ملتیا
پر بنډر اوتی
د پردیسو بڼ کې
د پیغلو پاڼو بکارت ماتوي

## واوره وریږي

عبدالله بختاني خدمتګار

واوره وریږي واوره وریږي
ښه ښه ایسیږي ښه ښه ایسیږي
سپینه ښله کې ښې سپینې واوري
ووریدلې ښې مزیداري
تور غرونه سپین شول ښایسته ځلیږي

واوره وريږي څه ښه ايسيږي
توره ځله کې هم سپينې واوري
ووريدلی په څو څو واري
د غرو په کندو کې خوندې کيږي
څه ښه ايسيږي واوره وريږي
ځلي شوي تيرې واورې لا اوري
اوبلنې اوريځې آسمان کې ښوري
د سپينو زرو رشی جوړيږي
واوره وريږي څه ښه ايسيږي
واوري شوي ډيرې ملك به ودان شي
لا به ودان شي كه ډير باران شي
د ژوند اوبه چې په خوند بهيږي
ووره وريږي څه ښه ايسيږي
پسرلی به راشي گل به خندا کړي
خوړو وږمو ته ژوند په نڅا کړي
غوټې غوړيږي زړه هوسيږي
واوره وريږي څه ښه ايسيږي
افغانستان به گل او گلزار شي
بهار بهار شي سينگار سينگار شي
ښکلا موسيږي مينه نخيږي
څه ښه ايسيږي واوره وريږي
غلې دانې به امبار امبار شي
خوږې ميوې به خروار خروار شي
ژبه خوږه شي چې را يادېږي
واوره وريږي څه ښه ايسيږي
که واوره اوري او که باران دی
دخدای احسان دی چې پر انسان دی

پرتهولو خلکو یو شان لوریږي
څه ښه ایسیږي واوره وریږي
کشکې چې ځمکه لکه آسمان شي
برخه د هر یو ترې نه یو شان شي
د ځمکې خلك به هسك ته لوړیږي
واوره وریږي څه ښه ایسیږي
که څه وې پوره او که څه سپوره
یو رنګ د ټولو برخه ده وروره
د بختاني زړه دې ته پخسیږي
څه ښه ایسیږي واوره وریږي
واوره وریږي څه ښه ایسیږي

د نیل رود ته

نصر الله حافظ

اې د موسی یدبیضا د لوی قدرت شاهده
اې د فرعون د یاغي زور د هلاکت شاهده
په توره شپه کې د سینا د حقیقت شاهده
د زور ورو – ستمګرو د ذلت شاهده
نن دې په مستو غورځنګو کې هغه شور څه شو؟
چې د غرور لښکر کړې ډوب ستا هغه زور څه شو؟
ستا د کنعان د لوی کاروان د جرس شور چرته دی؟
ستا د عزیز د زلیخا د حسن زور چرته دی؟
ستا د یوسف د زنداني حقیقت کور چیرته دی؟
هغه د پلار د زړه کتره د سترګو تور چیرته دی؟
د سکوت مهر دې کړه مات لږ راته حال ووایه؟
ماضي خو لاړه څه د حال او استقبال ووایه؟
نن ستا د ناوې د سرو شونډو ښکلی رنګ څه شو؟

ستا دزلمو د اراد و هغه غورځنګ څه شو؟
ستا د جمال ستا د کمال د تورې شرنګ څه شو؟
ستا د کلثوم له خولې وتلې خوږ آهنګ څه شو؟
ستا په آسمان کې لمر څه بل شانته ځليږي نيله!
نن ستا د حال په ژبه ټول مصر پوهيږي نيله!
نن ستا د وخت د سامری لوبه بدله ښکاري
د هارون ټنډه بيا تروه له دې کبله ښکاري
ستا اهرامونو کې د نورو ډيوه بله ښکاري
تاته به يو څه ښکاري – واوره ماته بله ښکاري
د ابوالهول د دهشت قصې دې هيرې کړلې
د خپل لرغونې سلطنت قصې دې هيرې کړلې
د افغاني سيد د فکر روڼ مشال دې څه کړ؟
لوړ تر آسمانه پورې روح د استقلال دې څه کړ؟
لکه د اور د سروسکروټو غوندې فعال قال دې څه کړ؟
چې پرې شاهين د ختيځ الوت پر او بال دې څه کړ؟
د توفاني څپو په غيږ کې دا نوا واخله
د يو افغان د زړه د اور بله رڼا واخله
دا ستا د تل په سرو اوسپينو چا سودا وکړله
ستا ددې لوبې ننداره ټولې دنيا وکړله
ستا دښمنانو له خوښۍ ځنې نڅا وکړله
خو ستا دوستانو دماتم او وير ژړا وکړله
ځم څوک خالد را پاڅوومه چې ستا ننګ وګټي
ستا خوار اولس ته آزادي په يو غورځنګ وګټي
نيله! يو ځل بيا توفاني شه او مستې پيدا کړه
په قهرمان ملت کې مينه او چستي پيدا کړه
ړومبنی ستا په تل کې ډوب شول څو وروستې پيدا کړه
په دې نيست شوي حيثيت کې دې هستې پيداکړه

د خپلو خلکو د ارمان ګلونه وغوړوه
بیا په هر ګل کې د مراد زنګونه وغوړوه
د نړۍ خلکو ته د مستو څپو زور ښکاره کړه
چې خوبولي پرې راویښ شي هغه شور ښکاره کړه
د یو وجود په مثال سپین ښکاره کړه تور ښکاره کړه
دوخت فرعون ته دې سرې لمبې د اور ښکاره کړه
نیله! نو هلته به ته نیل شي – که نه نیل نه یې
لکه دا اوس چې د خپل ملك په ورکه ډیل نه یې
وچکالي
عبدالغفور لېوال
څو میاشتې وشوې چې همداسې کیږي
بادونه پاڅیږي او وریځې راشي
اسمان له تورو سپینو، خړو ډك شي
کله د تالندې ګړز هم پورته شي
خو زمکه څاڅکي پسې مړه شوه، باران نه وریږي
سږ کال کوچیان رانه غلل
او د شوتلې په بدل کې مو چا کورت رانه کړل
ما مې کوچۍ درخو ونه شوه لیدی
تېر ځل مې ښار کې له هیندو نه ما میره واخیسته
او د هرات سلیماني رانجي مې ګډ کړل په کې
ټول کال لګیا وم په مریو مې رجړومه پوښ کړه
یوه هینداره او یوه سلایي
ما ویل درخو به راشي
تېر پسرلی یې رانه سترګو ته رانجي غوښتي وو
زما یې دا خبره نه هېریږي
چې له خندا سره یې یو ځای وکړه :
«پام چې رانجي یې ښه وي

د یشین پروا د ګناه نه لري رنجو سره سکاره ګډوي
درخو ریښتیا وویل
زموږ ګناه ډېره شوه
او ډېر سکاره مو د رنجو په نامه وشیندل د بل سترګو ته
موږ د همدې سترګو آزار وړی دی
چې اوس باران نه اوري
څو میاشتې وشوې چې همداسې کیږي
بادونه پاڅیږي او وریځې راشي
خو څاڅکی نه پریوځي
موږ ګنهګاریو
چې باران نه اوري
او کوچیان هم نه راځي
او خدای(ج) خبر زما درخو به وي په کومه تللې
زه به یې هېریم که یاد؟
کاشکې خبره وای چې
زما رانجي اصل دي
او ما ګناه څخه توبه ایستلې
زه په درخو مین یم
مین ګناه نه کوي
درخو دې خپله ښېرا بېرته واخلي
ګوندې
باران
ووري

چې ماښام دې راځي خوا له
عاشقان غمګینې سترګې
جینکی درته ګډېږي

بلې سترګې سره لاسونه
کله ډوب لکه دغم زه
کله مست زلمی ګلپېره
××××
سینده زه سینده بهېږه – سینده زه سینده بهېږه
سینده څه سینده بهېږه
هماغه لړه ورځ زما د هستې سبب شوه. هماغه ورځ چې د آسمان په څنډه یې ځای نیولی و. د آسمان پر تندې سوره وه. د لمر وړانګو سره اړولې وه، هماغه شفق زما د ژوندانه سبب شو، ماته یې تکل راکړ حرکت یې را وباخښه او دادی اوس خوځېږم او بهېږم.
هماغه لړه او کمکی وریځ چې له ورایه د آسمان په ټنډه سوره وه. نور آسمان تک شین و. غرو ته په آرام او سکوت کې ویده و، امه شمعه نه وه، ټول چپ او غلی و. یوازې هماغه لړه وریځ ددې سبب شوه، چې زما اندامونه جوړ کړي او بیا مې د حرکت او یون لپاره وهڅوي.
په دې ډول زه د آسمان له څنډو راغلم. له آسمانه را کوز شوم او د ځمکې پرمخ ښوییږم.
له کومه ځایه چې زه راغلم او پر کومو سیمو چې ما لومړنی یرغل پیل کړ هلته دغرونو حکمراني وه.
د سکوت پادشاهي وه، او د سکون نظام چلیده. هیچ نه وو او هر څه چې ووهغوی هم حرکت نه کاوه، په خپل ځای ډب پراته وو او کله چې زه وزیږیدم هغو راته کیسه کوله.
هغو راته د آرامي او سکون دخوند کیسه او پر حرکت او خوځېدو یون او تکل یې بد ویل ځکه یې کیسه کوله. هغو زما پر حرکت او زما پر منډو او زما په ځغاسته بد ویل او حرکت او خوځیدنه اوتلنه ورته ټولې او ټولې ملنډې بریښیدې.
خو کله چې زه وزیږیدم، کله چې د باران څو څاڅکې سره راتاو شول او بیا سره یو ځای شول او د باران څاڅکې سره راټول شول او بیا د آسمان په څنډو کې تورتم جوړ شو او د بریښنا منډو هغه څنډه په یوه درنګ کې ګزوګام کړی. هغه مهال ټول آسمان د وریځو تورتم نیولی و. لر او بر ټول وریځ وه، شفق نه بریښیده او د بوډۍ تنور هم نه معلومیده. په شیبو او په کاسو باران راښکته شو. شیبه شیبه ووریده او بیا د همدې هسکو او له پرتمو ډکو غرونو او ددې غرونو ژورو ناوونو په سیلابونو وژړل او د باران څاڅکې د دوی یعنې ددغه

ساکنوغرونو په زیړمو کیښناستل او اوښکې یې توی کړی او له هغو ورځو نه وورسته زه وزیړیدم. له هماغه کوچنی وریځو وزیړیدم له زیړدو نه پس مې حرکت پیل کړ. د غرونو کلا مې ونړو له سکوت مې مات کړ، لوی او ستر ستر ناوو نه مې وکینل د اوړدو او تاو راتاو درو سکون مې هم مات کړ پیریان او دیوان هم غرونو ته وختل. د هغو هم حرکت بدی ایسیده خو ما له هماغه ځایه حرکت وکړ د آسمان له څنډو راکوز شوم دوریځو له سترګو راوڅڅیدم. د غرونو په اوړو کیناستم او د هغو په سترګو کې اوښکې شوم او دادی اوس مې ددې تاو راتاو په منځ کې د غرونو او سکوت کلا ماته کړی ده. زه ځم پرمخ ځم وړاندې ځم او اوس مې تمیدنګ نشته.

زه د آسمان له څنډو راغلم. د پیریانو او دیوانو له کلیو را تېر شوم، دغرونو او درو سکوت مې مات کړ او دتورتمو تاوراتاو درو تنګو درو او ورشو ګانو څخه را تېر شوم. هلته مې ورشوګانې نه ې. هلته هېڅ نه وو، حرکت نه و، ژوند نه و او هېڅ شی نه و.

خو ما په خپل یون او تکل سره د درو سکوت مات کړ. هغه بندونه او خوړونه چې له زمانو او پیړیو راهسې همداسې وچ وو. هغه درې چې هېڅ شی په کې نه زرغونیدل په هغو هم راغلم د پیریانو تنورونه مې ونړول، د دیوانو بندونه مې وران کړل او ټول مې د خپل پاسته ټېر نه لاندې کړل.

اوس هېڅ شی نشته او د بنیادمانو کلی ته رارسیدلی یم. دا هم ښه کلی دی. دلته د هغو خپل شور او زوږ هم شته او دا را پورې غرونه هم پردي کلیو کې زما شور او زوږ منعکسوي په دې پرتو کلیو کې چې زما د تګ په لارې په اوږده او غزیدلی لار کې پراته دي. په دې لار کې چې دوی ته یی دې کلیوالو ته یې سر او بر معلوم نه دی. یوازې زه پوهېږم چې له کومه راځم او په کومه ځم هم هېڅ شور او زوږ نه و هېڅ ښکالونه وه. هېڅ شور او زوږ نه و په لومړی وار چې دلته راورسیدم له ډېرو کنډوالو څخه یو نیم لوګي نرۍ لوګي راپورته کېده. او بیا په آسمان کې ورکېده. هغه لوګي هم ډېر لږ و. ایله بیله په سترګو معلومیده. ایله بیله دومره حرکت او ژوند نښه وه. خو زه همدغه شان د کلیو او کنډوالو له څنګه تېر شوم د هغو ننداره مې وکړه ومی لیدل :

اوس له پیړیو پیړیو راهیسې زما د زمانو او وختونو راهیسې ددې کلیو ننداره کوم کلیوال یې ګورم ډېر کلونه کیږي چې زه له لرې تاوراتاو درو څخه د اوچتو غرونو څخه او د آسمان له څنډو راکوزیږم او بیا په دې تاوراتاو درو دې کلیو ته رارسیږم. ددې وګړو نظاره کوم

دوی وینم اوس ما د دوی ډېرې کیسې لیدلې دي او د دوی ډېر شورونه زوږو نه مې اوریدلي دي، چې زما له څپو سره غبرګ شویدی او زما د سندرو او حماسو سره مل شوي دي.

زه هر وخت ددوی له څنګه تېریږم او پرمخ ځم. ماته ډېره په زړه پورې په کې داده چې د ځینو کلاګانو بېرته دروازې د موږې پروې تاو غواګانې اوڅاروي وینم او چرګانو هم کړې لکی د کلا ترمنځ په خپلو وزرو کې خپلې مښوکې ننویستي دي.

ما ددوی ډېرې د غم اوماتم شپې لیدلي دي خو څومره چې بهیږم او ښوییږم او ددوی دغم اوماتم شپې رادمخه کیدی همداسې مې د خپلو څپو په زانګو کې زنګولی او پرمخ تلم. نه پوهیږم ایا دوی به هم د خپلو غمونو اونااميديو د شپو له یادونو څخه خوند اخلي او کنه.

خو کله چې زه ښوېږم په دې برخه کې راته خوند راکوي چې څرنګه د ټولو غمونو، خپګانونو او بدمرغیو سره بې پروا دی. نو ددوی بې پروایی مې خوښیږي.

زه له پیړیو راهسې او د زمانو په اوږدو کې ددې کلیو له څنګه راتېرېږم کله چې زما بې باکه څپې په خپلو غاړو او څنډو باندې یرغل وروړي. پانډونه رانړېږي او همدغه پانډو نه د ډېرو کیسو روایت کوي. هلته ککرۍ خاورې شوي دي هلته یوه پنډه برخه په وینو تکه سره د خاورو لاندې شویده او بیا پرې کوډلی جوړې شوې او بیا هغه هم د خاورو لاندې شوې او په کنډوالو بدلې  شوي دي او دا لړۍ د هغه پاڼ په ټول ضخامت کې بریښي.

خو کله چې ددغه پانډونو له څنګه تېرېږم د هغو په پنډوالی کې خاورې شوی ککرۍ وینم چې د رمو او پادو په پښو کې تول شوی دی او د هم دغه څنډو له پاسه په دېرو کې په حجرو کې مجلسونه وینم او دسیندرو او ټپو غږونه اورم چې زما له څپو سره یو ځای کیدل.

دلته هدیرې وینم دیری هم د همدې هدیرو له پاسه جوړې شویدي ددوی ترمنځ دومره واټن نشته. د یوې پېښې دوه بیل شکلونه ترسیموي او زه یې ګورم هدیره دچپ شویو کسانو ځای دی.

او په دیرو کې به چپ کسان ناست وو په دوی کې داسې کسان چې د رنځ او غم لپاره پیدا او ځان له رنځولو او د نورو له رنځولو یې خوند اخیستلو خو اوس د ټولو ککرۍ دهمدې ادیرې په پلی ترې لاره کې د شناختو په منځ کې د پادو او رمو په پښو کې تولېږي او زه یې نښې نښانې د خپلو غاړو په توږلو بانډونوکې هم وینم.

او زه د وختونو په اوږدو کې ددې کليو له څنګه تېر شوی يم ما هر وخت دوی يعنې دغه ساده کليوال هم په کار بوخت ليدلی دی له بارانونو او توفانونو وروسته زما په دواړو خواوو کې لړۍ د دوی له سترو اسويلو بل څه نه وي. هر وخت مې د دوی رنګونه زيړ او زبيښلی ليدلي دي. هېڅ مې د دوی په څېرو کې سرخي اومتره نه ده ليدلی. او ډېره لږه د دوی خندا زما د څپو له غږ سره يو ځای شوېده دا د دوی د ژوند عادي جريان دی خو زما دځغاستې منډې او ترړې يې هېڅ زده نه کړل.

زما په ياد دي او ښه مې په ياد دي کله چې له دغو کليو او پانډونو له څنګه تېريدم او د اوږدې زمانې په ترڅ کې تيريدم، چې اوس يې ماته هم دهغه آغاز اوانجام نه دی معلوم. کله چې په دغه جمجعې له دغه پانډونو څخه زما د څپو له پاسه رالويدلی نو بيا به زما د څپو له پاسه کښته پورته کيدلی.

ددغه جمجمو مخ او څټ نه بريښيده هرې خواته يې مخ و او کله چې په دغه ککرۍ زما د څپو په غيږ کې اوښتې را اوښتې يوازې مخ به يې ليدل کېده چاته پته نه وه چې ددې جمجمو په هره څنډه کې مخ دی. دا د زمانو او عجايبو په څېر وه په هره څنډه کې ماته شوی پېره وه. او د هغو په خوا کې د هغو په پاس او سرکې د پوچو سترګو سوری وو. په همدې ډول دغه ککرۍ د همدې پانډونو له پنډې غيږې څخه زما په زولی کې او زما زولی په څپو ې اوښتي را اوښتي اوکښته پورته به کيدلی.

خو زه له کلونو کلونو له پيړيو پيړيو او د زمانو له اخوا په دې کليو راځم کله زما د سيلابونو اوبه د دوی د کورونو تر دروازو رسيږي او کله هم له هغو ډېر لاندې او کښته بهيږم خو وينم چې زما په غيږ کې او زما د څپو زولی ته قسم قسم ککرۍ رالويدلي اوتوليدلي دي او په هغو کې ما لږې ککرۍ وليدلې چې درندې وي او زما په سينه کې يې ځای نيولی او اوس ما د خپل تګ او ځغاستې په واټن کې د يو مخ او د يوې پزې او دوه سترګو سره په خپل تل کې پټې کړی او د زمانو او وختونو له پامه مې لېرې ساتلی دی. خو پوهيږم چې هيڅکله به دپادو او رمو په پښو کې ونه توليږي.

ما په دې سيمو کې په دې کليو په دې لارو او په دې څنډو او په دې غاړو کې ډېر د کندلو کچکول ملنګان وليدل چې له ډېرو ليرو ځايو دې کليو ته راغلل او د (( خير راوړه)) غږ ونه يې وکړه. هغوی ټول په فکر کې و او کله کله يې نرۍ موسکا هم په شونډو سوره وه. خو کله چې به هغو ته کومه لپه جوار او يا يوه چنډه سوکړک له دروازو را ووته نو

هغو په ورته وویل : زه خیر غواړم . خیر ښکلا او مینه له رنځ او عذاب نه بیغمي نه جوار او سوکړک او بیا به په خپله لار رهي شول. لاړل به سپو به د هغو جړانګو ته خوله اچوله د هغو د کالیو چمتو او د هغو د کالیو جړانګو ته به یې خوله اچوله او ور پسې غپل به یې. خو هغوی به بې پروا روان وو او د سپو غپا ته به یې هم ځواب نه ورکاوه. تر هغې چې سپي به ستړی شول او بېرته به راوګرځېدل او خپل سرونه به یې د خپلو پښو په منځو کې ننویستل او غلي به شول.

زما د منډې او ځغاستې په بهیر کې زما د یون او حرکت په لړ کې او زما د تګ او وړاندې تګ په جریان کې به کله زما د حرکت مخه او هم دحرکت ټول لوري د وریځو تورتم ونیو. تور تم به زیات شو د بریښنا منډې به هم سره لیکه وویسته. آسمان به وغریده او بیا به هم واوریده د بریښنا سرې لیکې به د تورتم په زړه کې یوه لاره وویسته د تورتم زړه به یې وچاوه او بیا به په یو آن کې ورکه شوه خو دکلیو ساده خلکك به ورته ته ولاړوو.

هغوی به د تورتم د پای انتظار درلود او په پسرلیو کې به یې د آسمان په زولی کې د تښتیدونکو وریځو انتظار درلود او د لمر راختلو هیله به یې درلوده نجونو به د واښو انتظار درلود په هغو کې داسې ډېرې وې چې ددې هیله به درلوده چې کله به د آسمان په لمنه کې کله به زما په بره او یا کوزه کې د بوډۍ ټال ودرېږي او کله به بیا دوی په ځغاسته غواړي دهغې له لمنې تېر او خپل ځان بدل کړي. یجړاګانو به هم د اتلوسه درلوده چې دغسې وکړي او هغوی چې به په دې برخه کې بې حسه او بې احساسه وو هغوی به هم دا تلوسه درلوده چې له دې ازموینې تیرې شي خو د هغو د ډلو ډلو خوارتو او پراخوګامونو وروسته به د لمر وړانګې بشپړې په غرونو او درو راسوري شوی د بوډۍ ټال به هم والوت او بیا به ورك شو. دلې به بېرته راستنې شوې نجونې به هم راستنې شوې ... او هغوی چې د څه احساس نه کاوه هغوی به هم د راستانه شول یا راستنې شوې نه پوهیږم څه ورته ووایم یعنې هغوی چې دا او هغه جنسیت نه درلود. هغوی به هم راستانه شول غلی به ودرېدل بې پروا و بې توپیره.

کلونه کلونه په همدې ډول تېرشول، پېړۍ واوښتې زمانې تېرې شوې او دا هم د وختونو د پرون او د زمانو د شا داستان دی، په ماضي کې ریښې لري د اوس نه دی. خو د بوډۍ ټال هیڅا ونه نیو. په ډېرو ارتو او پراخوګامونو به ور وځغلیدلی خو پیرته به راستنې شولې

هېڅوک د بوډۍ له ټاله تېر نه شول او له هغوي ورځې تر اوسه هم په هغه کليو کې هېڅوک دا زړه نه کوي چې اوس د بوډۍ له ټاله تېر شي او خپل ... بدل کړي.
نو په دې ډول وه زما افسانه او زما د بوډۍ د ټال داستان چې هېڅکله ډېر ونه پاييد هر وخت د تالندۍ او بريښنا په څېر راڅرګند او بېرته د لمر په لمنه کې ورک شو او د ليوالو نجونو او ښځو نکو ارمانونه به يې هم ويلی کول او د ځان په څېر به يې ورکول.
يووخت مې داسې هم وليدل چې د مرګ استازی په دې کليو راسم شو تورې جامې يې په غاړه وې هرڅه يې توروو خو يوازې سترګې يې سرې راوتلې وې وروسته ورپسې لوی کاروان د آسونو د کچرو او اوښانو ورو روان و. دوی پرمخه تله او پر مخکې يې هر څه چې ورتلل هغه يې هم د پښو لاندې کول هر څه يې هوارول هر څه يې له منځه وړل هماغه زېړ زيبښلی کليوال هماغه خټين کورونه او هماغه زيړزيبښلي انسانان، چې هيڅکله يې په آرام فکر او فکري آرامي سره په اوږي کې د سيند د يخو څپو ورږمه په خپل ځان نه وه احساس کړی اونه يې هم د ژمي  ځلو لمر ...
هغه د مرګ استازی و هغه د مرګ کاروان روان کړی و او کله چې به دغه کاروان په همدې کليو او پټيو او ورشوګانو او کڅيو راسم شو نو بيا به هم نه ليدل کيده هر کال ددې کاروان قلنګ و چې راته به او تېريده به او ککرې او جمجمې به دکاروان په پښو کې توليدلی او آواز به يې کاوه تر هغې چې ډاډه به شو چې څوک نشته او بيا به تېر شو دا د اوس کيسه نه ده، د ډېرو پخوا اود زمانو له شاده او د وختو پر اخوا ده.
او بيا هم وختونو په يوه وخت کې د پيړيو په يوه ګړۍ کې يو بل لښکر پردې کليو راسم شو هغوی هم ددې کليو او بانډو يو نيم پاتې شوی وليد خو دوی د ښې او بدې لارې چارواهه خپله يې ښه ګڼله تېره تبرګی يې په اوږ ايښي وو څنې يې په ملا پرتې وی ډله ډله پر سپينو کاليو کې روان وو هرې دروازې ته چې په ودربدل د خپلې برخې پوښتنه به يې کوله. د کلاګانو په مخ کې به يې اتڼونه او هل هل کاوه ډېر مې ليدلي دي چې په وچه يې په ځينو کسانو سرونه خريل خو دوی ځانته د امانت، صداقت، پاکی قاصدان ويل دوی هر څه ښه خويونه او ښه صفتونه د ځان ګڼل او دوی د خپلو دغه ښو صفاتو د رواج لپاره هم ويني تويولي.
خپله لاره يې حقه بلله حق په لار کې ويني تويول يې هم حق بلل.

دوی هم ددی لپاره چې دنیایي شیطاني بلله، دنیایي د شیطان کور باله او له دنیا سره مینه یې د شیطان خصلت باله خو له هر چا زیات دوی تله دنیا سره مینه درلوده دوی د امانت، صداقت لپاره تبلیغ کاوه خو د دوی په اوږو ایښي تبر زینونه هیڅکله سپین نه بریښیدل بلکې تل په وینو سره وو دوی هم ډېر ماشومان وژړول دوی هم ډېر ښاروی په مخه کړل کوډلې او ځېږو نه یې وران کړل ویالی او بندونه یې ونړول فصلونه یې د پښو لاندې کړل کورونه یې وسیزل  خو خلک یې امانت، صداقت او عبادت ته رابلل.
داهم د زمانو اخواته کیسه ده د پیړیو یو شاته ده او د وختونو په پرون تیره شوه یوزاې ما ولیده چې زه ځم، بهیږم اوتېرېږم او ددې کلیو له څنډو او غاړو تېرېږم خو بیا هم پیړۍ پیړۍ تېرې شوی زمانې  واوښتې وختونه تېر شول نسلونه د فصلونو په څېر یو پر بل پسې را وټوکېدل خو یو شی لا بدل نه شو او هغه ددې وګړو زیر زبیښلی رنګ د غم او قهر څخه ترهیدلی رنګ د آرامه ذهن او د ترهې او هیجانه ډکه لړزیدنه.
زه پر خپله لاره ځم روان یم او خپله نه راستنیدونکی لاره وهم په بېرته نه راګرځم او زما په دواړو څنګلو کې پراته کلي هم سحرونه او ماښامونه لنډوي. شپې اړوي او ورځې راولي خو د راغلو کاروانیانو اوتېرو شویو لارویانوهماغه شان خیال ساتي. که د دوی د تېرو جمجمې اوس خاورې دي نو دهغو له جمجمو یې زیارتونه جوړ کړ یي دي او د دوی پر ځای چې خپل ځانته عبادات وکړي په هغو باندې ولاړ جنډو ته سر ږدي او ددې پر ځای چې خپل ځانته را وګرځي همداسې د نورو په تماشه وو.
دوی له پیړیو راهیسې همداسې دي بوتانو ته سجدې کولې دا له پیړیو پیړیو راهیسې افسانه ده او دا سنت او افسانه به هماغه مضمون سره د شکلونو په تغیر پاتې وه همدا ډول دوی بوتان توړل، دوی له کنډو او ډبرو بوتان جوړول د خټو سترګې او پزې یې ورته ایښودلی او د سر کاسه یې ورته له کاڼو او شګو ډکوله او بیا یې ورته ګونډه وهله او له هماغه اوږدو زمانو راهیسې همداسې په ګونډووو. اوهمداسې په تعظیم وو خوهیڅکله خپل ځانته راستانه نه شول هیڅکله راونه ګرځېدل چې خپل ځانته او خپل یون او دننه ته سرکېږدي. او سردننه کړي او بیا د عبادت لپاره د پاکې لپاره او د صداقت لپاره اود رښتونولی لپاره لویه عبادتګاه او لویه بتخانه وګوري. او بیا په دې خبره سوچ وکړي چې څه وکي.

خو ما په ټول تګ او دوکې په منډه او ځغاسته کې او ما په یون او حرکت کې ټولې زمانې شاته واچولې وختونه مې د خپلو ځپو له پاسه ونځول او په پوره شان او پرتم سره ددې کلیو له څنګه تېر شوم خوماته!

ماته د خپل یون او حرکت مېخ موج او څپه دومره په زړه پورې نه وه لکه هغه څه چې ما د خپل حرکت په شیبو کې په دې کلیوکې په دې دیرو او په دې حجرو کې ولیدل په دې چینو او په دې پیتاوو کې مې ولیدل او زه یې دې ته ځبر کړم چې باید وې وینم نظاره یې وکړم او ورته وګورم او هغو ته هم دخپل ځان په څېر حرکت ورکړم دحرکت غړي او اندامونه ورکړم او بیا یې راوهځوم هغه چې ماته ډېر په زړه پورې وو هغه څه چې زما د منډو تنده ورسره وه همدا وګړي وو همداکلي وو اوهمدا خلك وو.

هغه دا وو چې : له کلونو راهیسې د میندو اوښکې وچې نه شولې هغوی ډېر ژړلي وو او ما په ټول واټن کې د هغو ژړالیدله پیغلو هیڅکله خپل اوربلو ته ږمنځ نه کړل او ځلمي هم دې ته برابر نه شول چې د خوښیو په اتڼ کې خپلې څنې وغورځوي سپین ږېرې هم کړوپه ملا ناست وو او دخپلو لټو او اندیښنو په سیند کې غوپه وو او په دې بابد یې فکرونه کول.

اودا ټول کارونه په بېلا بېلو وختونو او زمانو کې له دې لارې تېر شول د غم او مرګ کاروانونه وو او دمینې او محبت قافلې هم کله ناکله له دې لارو ګذر کړی دی د قهر او غضب کاروان هم تېر شوی دی سرې پوندې د ریزمریز شویو انسانانو په ټټر ختلې قافلې اود حق او حق لاروي چې په بېلو بېلو زمانو کې له دې کلیو تېر شول خو ټولو له دوی قلنګ واخیست نذرونه یې ترې راټول کړل او د دغه کاروانونه څټ ته یوازې ددې کلیو په آسمان کې د ویر او ماتم وریځو ځای نیولی و دوی دخیر او ښکلا د قافلې په خبرو پوه نه شول.

او دچا خبره د (حق) د کاروان په راتګ سره په وینو کې غوپه شول او اوس هم په همدې ډول هماغه څلوته په ګونډو دی چې له قافلو پاتې شوي دي کاشکې چې دوی توږلې وایي او دوی ورته د هغو په وجود کې هغو ته یعنې ځانته ګونډه وهلی وای همداسې وشول خو سیند لاځي، سیند لا بهیږي.

سینده څه سینده بهیږه (۲)

او د تل په څېر د پیړیو په لړۍ کې او د زمانو او وختونو په درنګونو کې د کاروانونو لړۍ همداسې پرمخ تلله خو د زمانو او وختونو په پړاونو کې یو بل کاروان هم په دې کلیو په دې بانډو او په دې ورشوګانو او کڅونو او درو راغبرګ شو دا هم کاروان و وګړو لوی لوی قطارونه جوړ کړي وو بیرغونه یې ترلي وو ډېر زیات بیرغونه ورسره وو خو ما د خپلو څپو په ترڅ کې اود خپل منزل په جریان کې د خپل حرکت او بهیر په اوږدو کې د هغو نظاره کوله هغوی مې لیدل چې په ډېرتراټ او منډه او ځغاسته روان وو ډېر په بیړه یې ګامونه اخیستل داسې چې لکه د ځغاستې لوبه لري او داسې چې یو له بله سره سیالي لري د منډې او ځغاستې سیالي ددې لپاره چې یو له بله وروسته پاتې نه شي نو یې په سیالي تګ کاوه دوی روان وو مخونه یې سیند ته را اړولي وو زما د څپو نظاره یې کوله خو په شنو فصلونو به یې پښې ایښودې په پولو او پټ، به ورختل شنې لښتې به یې راماتولې دغنمو وږې به یې په لاسونو کې مروړ کړل کاروان مې په پسرلې کې لیدلی و.
هغه مهال چې شړشمو ګلان کړي وو، ونې او دیرې سمسورې شوې وې پټې ښه شته ولاړ وو غنمو لا وږي نه وو ایستلي او د درو خوړونه ښه په مستې بهېدل ویالي ښې ډکې روانې وې ماهیان زما له ژورې سینې څخه په ویالو کې جلا کېدل او منډې یې وهلې آسمان برګ برګ و د لمر سترګې په وریځو کې پټې نې کاوه پرخه په وښو او غنمو پلنه وه خو کاروان په منډه روان و نه پوهېږم دوی د خپلې اوږدې لارې او یا د خپلې لارې د اوږدوالي اټکل کړی و او کنه! دوی همدا ډول په ځغاسته روان وو دوی منډې وهلې اود خپلې اوږدې منډې په انجام کې یې د ساده بندي او سترپا اټکل نه وکړی.
خودا قافله په ډېر هله او شور زوږ سره روانه وه د کلیو خلك ورته د قریو اوسیدونکي ورته ولاړ وو ښځې ورته په بامونو راښکاره شوي وې.
په پټیو کې چې چا للون او تسکوره وهله او یا یې قلبه کوله او یاې لښتې پاکول ټول ددې کاروان په نندراه شول د دوی دغرور سیل یې کاوه د دوی د یون او حرکت سیل یې کاوه او د دوی دچابکو ګامونو سیل یې کاوه ماشومان ورته په وستلونو کې ولاړ وو نجونې ورته لوراو ټوکري پر سر په لاره ولاړې وې خو دوی خپلې منډې وهلی او خپل توغونه یې یې رپول د بریو زیری ې درلودل، چیغې یې وهلی او شور یې کاوه او په خپل حرکت مست وو د ټولو سترګې سرې وی دحرص او هوس تنده یې هم د شونډو له پاسه ځلیده شهوتو یې سترګې ړندې کړې وې په هر څه کې یې خپل ارضا لیده ...

خو ما ورته د خپلو څپو له لمنو کتل زه پوهېدم چې دوی تېرېږي او پرمخ ځي او په بېرته نه راګرځي کله کله به د هغو د شور او زوږ غرهار زما په څپو کې ورک شو غلی به شو او انګازې به يې ورکې وی او کله به يې هم زما د څپو د وزرونو له پاسه آوازونو ځغاسته کوله او بيا به بېرته ددې لوړو غرونو د څوکو له سره را منعکس کېدل.

او په دې ډول څومره چې زما د حرکت او څپو شور زياتېده او څومره چې زما حرکت ګړندی کېده دوی هم خپل حرکت زما سره په موازاتو کې ليده زما سره يو ځای يې تګ کاوه او يو ځای پرمخ تلل او کله به يې په ډېرو ليدو سره ځان زما په څپو کې ورک کړ. لاهو به شول او کله به هم ګوښې او زما د حرکت او څپو په تماشه زما په جيو روان وو. زما له ساحلونو به يې خوند اخيسته خو د پيريانو او ديوانو يې هېڅ اټکل نه کاوه نه وو خبر چې شيطانان به هم څيرې سترګې په نورو کاليو کې له غرونو راکوز شي له ځنګلونو به راووځي او د ديوالونو له چاوونو او درزونو به را بهر شی دوی دا تصور نه کاوه د خپل يون اوتکل په خوند مست او مغروره وو ددې آتکل يې نه کاوه چې ګونډې په دې هوار ساحل کې به ددې چټک او څپانده سيند په خوا کې چېرته غرونو ته ختلی او جګ شوی پيريان هم پيدا شي هېڅ، دا او دا ډول سوچونه يې نه کول.

په خپل تن او روان کې د ويده شويو وسوسو د را ژوندې کېدو اټکل يې هم نه وکړي چې يو وخت کې به را هست شي د تن نه به وړاندې ودرېږي او بيا به په وجود کې ويښته ودروي. دوی ددغه ډول نامريی شيطانانو د شته والی تصور هم نه وو کړی.

خو ددې وار قافله څه بل شان وه دی هم پيغام درلود هغه له مودو پس راغلی وه او نه يې غوښتل د تېرو کاروانونو په پل پل کېږدې د ډېرو کلونو او پېړيو وروسته يې په دې کليو او قريو ګذر کړی و. له دې کاروان سره ډېر وګړي مل شوی وو او څه يوستوي او لږ شمېره کاروان نه و هغه وخت روان کاروان زما د څپو په څېر مست او بې باکه و. ما په خپل زور او قوت سره او زما څپو په ټول شور او زوږ سره په خپلو ساحلونو يرغل ورووړ ساحل ته يې ګواښونه کول او په ډېر پرتم به ترې بېرته زما يخی سينې ته راستنيدل ټول کلي آرام اوچوپ و کروندې هم آرامې او په سکوت کې وې د غرونو په تړو کې شين شوبې را پيدا شوي وو خو د کليو او کلاګانو وګړو د کاروان ننداره کوله هغوی خپل کار روزګار پرې ايښي و او يوازې ددې اوږده کاروان په تماشه بوخت وو ما ښه لېدل او ددوی په ليدو سره

او د خلکو او وګړو په حيرت سره او د کاروان په چابکه او ګړندې حرکت سره راته د خپل آغاز او انجام کيسه ياد ته راتله.

خو اوس له هغو وختونو ډېر وختونه څټ ته پاتې دی زما د يون او حرکت او سرآغاز سره ټول پيريان او شيطانان غرونو ته ختلی وو داسې بريښيد له چې ګوندې نور د هغو نوم نښان نشته نور هغوی ورک دی نور د هغوی پته نه لګېږي خو داسې نه وو.

هماغه شيطان د غرونو او ځنګلونو د ناوونو او سمڅو څخه را کوز او را بهر شوی و او لکه د هرې قافلې په څېر يې په دې کاروان کې هم ځای نيولی و په صفونو کې په ليکو کې او په ځانونو کې نه داسې چې ټول کاروان د پيريانو او ديوانو قطارونه شول نه بلکې د يو نيم په تن کې او د يو نيم په ځان کې خو ددې راز يوازې ماته بريښيده او دا ځکه چې زه ددې ټولو حادثو او ددې ټولو واقعاتو او دوی ټول لاريو د سترګياوو او دمو شاهد وم ما ليدل چې ددې قافلې سره هم ديوان او پيريان او شيطانان شته خو په هماغه شکل نه لکه کله چې په ما پر دنګو غرونو او ناوونو او دښتو يرغل وکړ او دوی به د خپلې ناستې ځای پريښود او د غرونو څوکو ته به نيغ شول دا وار څه بل شان راغلی او ګډ شوی وو د پيريانو سترګې هماغه ډول نه وې د شيطانانو څېرې او دمخ کاسې هم هماغه ډول څو رنګه نه وی او نه هم چاته د توجه وړ وی هغوی ډېر آرام په لاره تلل او نه ديوان په هماغه ډولونو وو چې د مخه وو. بلکې دا وار بيخې بدل و دا وار دهغوی ارواح وی هغوی په خپله نه وو نور کالبدو نه وو او د هغوی ساه وی په کې چليدلی چې څه يې ددې کاروان په ليکو کې او د کاروان د کاروانيانو په ځانونو کې ځای نيولی و او څه يې منظمې ليکې ...

په کليو کې ګونګوسی وې، چې دوی کالبدونه له ملايکو را پټ کړی وو او په دې کاروان کې يې د تګ لپاره موقت را اخيستې وو خو خلکو ورته ننداره کوله ښځې ورته په بامونو ولاړې وې نجونې ټوکرې پر سر او لور په لاس ولاړې وې ماشومانو په وستلونو کې لوبې پرې ايښې او ددوی په تماشې او لېدو نه مړيدل او په دې ډول يې ددې کاروان ننداره کوله.

ددې کاروان د منډې او ځغاستې شيبې ډېرې ژر تېريدلی فکر کېده چې د پيړيو لار په ساعتونو او ګړيو کې وهي او د کلونو لار هم په درنګونو کې ما ليدل چې د دوی راتګ سره په کليو کې څه بل شان حالت راغی او دا راز به لارو کې په وستلونو کې په غرونو کې او دښتونو کې پيريانو او ديوانو مورچلونه نيولی وو.

خو کله چې یې د پیریانو او دیوانو په باب وایم هغوی هماغه موجودات وو چې پیړۍ پیړۍ او کلونه کلونه په صفونو کې دریدلې وو په قطارونو کې ولاړ وو او د ډېرو کاروانونو د ماتولو او را اړولو تجربه یې درلوده د انسانانو په جامو کې د سړیو په کالیو کې او د پرښتو په څېرو کې را برسېره شوی وه خو هېڅکله یې د پرښتو او ملایکو عمل نه وکړي دوی په کاروانونو کې هم او په لارو کې هم په حرکت او یون کې هم هر وخت په ککریو پښې ایښې وي په ټټرونو ورختلې وو په زړونو یې برچې منډلې وې او د وینو په لښتیو کې یې مخونه وینځلی وو او دې ته یې د دنیا د ټولو ژبو ډېر ښه کلمات او ګړنې را ټولې کړې وې او پرې باندې ایښې یې وي هر وخت د دوی د ویاړونو ځلې له ککریو دریدلی وو خو دا وار یې ددې څپانده او بهانده کاروان په لیکو باندې هم خپل جادو او افسون وکړ.

دتېرو قافلو پاتې شونې او د دیوانو او پیریانو او شیاطینو وړې وړې ډلې د وختونو په بهېر کې بیا په قافلو بدلې شوې خو دا قافله دا وار د شیطانانو، پیریانو او دیوانو قافله وه چې زموږ د تګ او ځغاستې سره موازې پر مخ تلله هغوی لکه څنګه چې د مخه غرونو او ناوونو او ګڼو ځنګلونو کې ځانونه ورک کړې وو او زما د څپو او زما د څپو له یرغله تښتیدل دا وار یې په ډېر نیرنګ او سمبال قوت سره زما د حرکت په مخالف لورې کې حرکت پیل کړ او دادی اوس یو ځل بیا منډو او ځغاستو ته دوام ورکوي دوی پر پټو ورځې په پولو ورخېږي او دا ورونو او لوګیو دندو کار جوړوي او ترې ځې د سرونو ځلې دروی او د وینو لښتې بهوي او هر څه چې پرمخ ورځي هغه تر پښو لاندې کوي.

خو مشکله ده چې د هر یو په باب یې ووایم دا عجیبه قافله ده د دوی په راتګ او منډو سره په ټولو لارو کې فصلونه زیړ شول د ونو پاڼې ورژیدې دکلیو خلک ورته ډېر زیړ زبیښلی ودریدل د ماشومانو خولې په سرونو جګې ودریدلی ویښته اوغونې یې زیړه شول د ښځو او پیغلو زړونه په ټټرونو کې په ټوپونو شول او په دې ډول دوې کاروان تراه او ویره په تولو ولاړه او سیل بینو پریو ته او د ټولو رنګونه یې زیړ اړولی وو په راتګ سره یې ټول برکتونه ټول شول. دیوانو او پیریانو له کلیو ټوله ارزانې جګه کړه د فصلونو او پټو بندونه یې ونړول ویالی یې وچې کړی د ونو پاڼې یې ورژولی او د درو او ستلونو لاره زیړو پاڼو وینوله هرڅه د شړشمو د ګلانو په څېر زیړ شول خو خپله د شړشمو ګلان هم ورک شول.

خو داستان لا اوږد دی په ترهیدلو کې ځینې هماغه ډول په سیل بوخت دي او ځینې د سیندني قافلې سره د سیند په موازاتو کې روان دی او پرمخ ځي کلونه تېر شول خو په کلیو

او قريو باندې په ديرو او حجرو باندې په لارو او وستلونو باندې  لا د ويرې اوترهې غدې لاسبرې ده يوازې د کليو او ښارونو حکيمان په دې سوچ کې غرق نه دی چې څه کيږي؟ بلکې اوس ټولې ارواې اوټول زما د بهير سره موافق کاروان چې په ځينو لاشيطاني وسوه او ويره لاسبرې ده او د بادونو د وزرو په وړاندې يې لينګې رپيږي او د خپل راتلونکي حرکت په باب څه نه لري. نه بلکې نور هم نور سيل بينان هم په دې وسوسه کې دي چې کومه قافله په ژر خپل سر منزل ته رسيږي خو زه پوهيږم زه سيند يم، زه بهيږم او بهيږم ما د پيړيو په ساړه ګوګل کې لاره پرانيستې ده ما د تورتمونو زړونه چولی دی او ما هر تورتم ته خپله تالنده او بريښنا ليږلې ده او هلته مې د نويو لارو څرک لګولی دی نو زما او زما د کاروان لاره هيڅکله په شګو او ګياوو نه بنديږي.

زه به ځم

زه به بهيږم

سيند به ځی

سيند به بهيږي

## د ګودر اومنګي انځور په لنډيو کې:

اوبه دهر ګودر خو ړی دي

جانانه ستا لپاره کوز ګودر ته ځمه

*****

اوښکي مې سيند غوندې بهيږی

بيا به د سيند د غاړی نه کوم سيلونه

*****

پرګودر سور سالو ښکاره شو

ماوې دې تورو اوبو اورواخيسته مينه

*****

پلارېې دبر کلی ملک دی

لور يې د کوز کلي منګی راډکو ینه

*****

په ګودر څه ټکه لو یدلې

چې کشره خور یې بدرګه ورسره ځینه

*****

خا ونده دا ګناه مې معاف کړی

بیا به دخوړ په غاړه نه کرم ګلونه

*****

خاونده ما دګودر ګل کړې

چې جنکي مې شوکوي سرکې مې ږد ینه

*****

خوله به د خدای په رضا درکړم

منګی مې ولې ښوروې لنده دې کړمه

*****

د زلفو تار مې اوبو دروړو

په غم شر یکه مینه نیسه ګودرونه

*****

د کشمالو منجیله وکړه

چې خو شبویي دې د منګی د بیخه ځینه

*****

دګودر غاړه ورته نیسه

د نجلۍ خوی د مرغاوې دی رابه شینه

*****

دګودر هر بو ټی دارو دی

چې پری لګیږی د نجو نکو پلونه

*****

د منکو ټو کتار یې جوړ کړو

لنډۍ بازار یې په ګودر ولګاونه

*****

که دې زما دیدن یاد یږی
د ګودر غاړه اجاره واخله مینه

*****

که د یدن کړې ګودر ته راشه
زه به منګی په لپو ورو،ورو ډکومه

*****

ګل مې د لاسه اوبو دروړ ه
په غم شر یکه لا لیه نیسه ګودرونه

*****

ګودر ته څم راپسې راشه
زه به منګی په لپو ورو،ورو ډکومه

*****

ګودر په سر مې قبر جوړ کړه
چې مات منګی جنکۍ زما په قبر ږد ینه

*****

ما دګودر په غاړه ښخ کړی
چې جنکۍ مې مات بنګړي په قبر ږد ینه

*****

منګي یې ټول په ډنډ غو په کړل
د شیطا نۍ منګی په لپو ډکو ینه

*****

یو ګوټ اوبه منګی نه راکړه
د وصال تږی یم اوبه بهانه کومه

**مات کودړی:**

**الفت**

دګودر په غاړه پروت و مات کودړی

و یلی زه وم روغ منګی کلال جوړ کړی

*****

د لته لو بو کې زه مات یوه ځلمی کړم

یوی پیغلی په اوږو ومه راوړی

*****

د جهان هره زره کې عشق عیان دی

مات کودړي سره هم د عشق داستان دی

*****

ډیر مین په دې ګودر دې یو ځای شوی

ډیر منګي دلته مات شوی لند بیان دی

**په لنډ یو کې دګودر انعکاس:**

اوبه د کوز ګودر خوږی دی

لیلا د یار لپاره بر ګودر ته ځینه

*****

اوبه دکوز ګودر خوږی دی

زه د مین د پاره بر ګودر ته ځمه

*****

او به د کوز ګودر خوږی دی

د لیو نی د خو بی کنګل پکې راځینه

*****

بدن دریاب زړه مې ګودر دی

د غم ویلې پکې رګونه تللي دینه

*****

بیا به منګی ته ګو تې نه کړم

مور د ګودر د تلو نه ما منعه کوینه

*****

پاس په ګودر د پیغلو جنګ شو

د سور سالو میر منې ما تی ګډوینه

*****

پاس په ګودر ولاړه ګله

نصیب د چا یې او به زه در خیژومه

*****

پاس په هوا راشه جانانه

د ګودر لارې راهیزو نیولي دینه

*****

پټ د ګودر په غاړه کینه

چې یاره پټ په پټ وکړو دیدنونه

*****

پرګودر سپینه سینه اوړي

په لاره تیر یدم ودې ویشتمه

*****

پر ګودر ګنې ونې کیږده

چې شا لیلا منګی په سوری ډکو ینه

*****

پر ګودر نښه راته کیږده

د ما زد یګر اوبو له ځمه وا به یې خلمه

*****

پر ګودر څه بلا لګیږی

چې کشر ورو یې بدرګه ورسره ځینه

*****

په ګودر سور سالو ښکاره شو

چاوې سالو دی وچاوې اور ولګیده

*****

په لوی ګودر دی ځنې پری ولی

په نری باد یې وچوی مین دی کړمه

*****

پیغله ګودر ته روانیږی

زړه یې منجله کړو پرې منګی راوړي مینه

*****

تاسې دې بر ګودر ته ګورئ

د پیغلو جنګ دی منګو تې ګذاره وینه

*****

ته د ګودر غاړې ته راشه

ما په منګي کې پراتې راوړي دینه

*****

ته ماز دیګر ګودر ته راشه

په ګودر کیږی په اسانه دیدنونه

*****

ته ماز دیګر ګودر ته راشه

زه به منګی په لپو ورو ورو ډکو مه

*****

جانانه ستا د زړه لپاره

زه په غرمه د ګودر غاړی له درځمه

*****

خاونده بیادی مازد یګر کړ

پهګودر جوړشو دمنګیو کتارونه

*****

خلکه ګودر ګوري ګډیږی

زه بې ګودره ګډیدمه لا هو شومه

*****

داده ګودر غاړه راواخله

لکه زخمی هیلۍ په ډبکې ناسته یمه

*****

د اسرې منګولې نری غاړه

ګودر ته لاړه دچا ژوند خرابوینه

*****

دا سرې منګولۍ نرۍ غاړه

ګودر ته لاړه برګ منګی ترخکې وړینه

*****

داسري منګولې نرۍ غاړه

لکه کو تره په مکیز ګودر ته ځینه

*****

د جلا لا ګودره وران شې

په جنکودی سا لنډی ولګاو نه

*****

ددی ګودر غاړې ته ګوره

نري لوګي دی پیغلی زړونه ودیتوینه

*****

دګودر خواکې وني کیږده

چې شا لیلا منګی په سیوری ډکو ینه

*****

دګودر زر اجازت راکړه

ما ته کو څه کې جنکی ولاړی دینه

*****

دګودر غاړه به ښا يسته کړی

ورله روان شول د بلبلو کاروانونه

*****

دګودر غاړه پری ښايسته ده

څا نګه دی خدای شامدام روغه لر ينه

*****

دګودر غاړه ورته نيسه

دجنکی خوی دمر غاوی دی رابه شينه

*****

دګودر غاړه ورته نيسه

ليلا دجنو ميره ده مخکې دربه شينه

*****

دګودر غاړه ورته نيسم

زما جانان پردی لار تللی رابه شينه

*****

دګودر غاړه يې ناغه کړه

زلمو په غاړه کړه دصبر تاويزونه

*****

دګودر غاړه دې اغزي کړه

په سترګو ړوند شې بخملی پنې لرمه

*****

دګودر هر بو ټی داروده

چې لګيدلی پری د پيغلو پلونه

*****

دګودر هر بوټی دارودی

جونې پری هره ورځ لاسونه لګو ينه

*****

دګودر هر بوټی تازه بڼي

هرمزد یګر پرې جو نې سترګي لګو ینه

*****

دګودر هر مازد یګری ښه وي

چې جونې ټولی ماز د یګر سیل له راځینه

*****

دمازد یګر اوبوله مه څه

په ګودر زانګي دکوډګرو تاویزونه

*****

د مازد یګر ګودر ته راشه

ما په منګي کې پراټې راوړي د ینه

*****

د مازد یګر ګودر له مه څه

پیغلې ابو پر ځای و ینې دکو ینه

*****

د مازد یګر ګودر له راشه

زه به منګی په لپو ورو،ورو ډکومه

*****

د ماز د یګر ګودره وران شی

په خندا درشم په ژړا درنه راځمه

*****

د یدن دې سین کړه را لا هو کړه

زه په غاړه دګودر ولاړه یمه

*****

زلفی یې بیبا پر مخ خورې کړی

د ماز د یګر ګودر له ښی ځان سنګارو ینه

*****

سترګې دې ډکې تو مانچې دې

چې د ګودره را ختم ودې ویشتمه

*****

سترګی هوسی صراحي غاړه

بیا دګودر په لاره مسته یاره له ځمه

*****

شاه دګودره روانیږه

زما نړ یړې د زړګی پا خه برجونه

*****

شاه دګودره روانیږه

لکه د بڼ مر غی وړه شنه یې خالونه

*****

شاه دګودر له لوري راغله

لکه پا چا ورته پیري ولاړی دینه

*****

شال یې په سر اوړی په غاړه

ګودر ته لاړه عاشقان ر نځورو ینه

*****

شو مازد یګر ځان یې سنبال کړو

خپلو همزلو سره کوز ګودر له ځینه

*****

شو ماز د یګر ګودر له لاړه

لکه هو سی په لاره اخلی قد مو نه

*****

شو ماز د یګر ګودر له لاړه

په اردلی کې سیهلی ورسره ځینه

*****

که ته ر یښتیا پر ما مین یې

د ګودر غاړه اجاره واخله مینه

*****

ګودر ته ځم را پسی را شه

یوه شیبه به دې په ښه زړه وو ینمه

*****

ګور له ځم را پسی راشه

منګي مې دوه دي نری ملا مې ما تو ینه

*****

ګودر له ځمه را پسی را شه

ما په منګې کې پراتې را وړی د ینه

*****

ګودر ته دواړه خو یندي راغلې

یوه یې ویشتل کا بله یې غشي ټو لو ینه

*****

ګودرته ځم راپسی راشه

زه به منګی په لپو ورو،ورو ډکومه

*****

ګودر ته ځم راپسی راشه

وخت مازد یګردی چې پرې وکړو د یدنونه

*****

ګودر له غبرګې خو یندی راغلې

ګو له ماری د خمارو ستر ګو کو ینه

*****

ګودر له ځمه خو شحا لیږم

چې مې جانان کر لي لاره کې سره ګلونه

*****

ګودر ته ځې په مخه راغلې

ګیبی ګیبی پرتو ګ دی لاره نه راکو ینه

*****

ګودر کې سری لمبی شوې پورته

د چا د زړه په دنیا اور ولګید نه

*****

ګودر شو ګرم مازد یګر دی

لیلا همزولو سره قینج مکیز کو ینه

*****

ګودر له ځم چې اوبه راوړم

په سرو منګلو به یې جانان له ورکومه

*****

ګودر له ځم چې م منګی مات کړم

سپو ږمی زړه شوه اوس تیاره کې یاره ځمه

*****

ګودرته ځې ناوخته کیږی

د خیال کاته کوي په اور یې ستی کړ مه

*****

ګودر له ځي او پښو ته ګوري

پاچاهي لارکې د خیال مه ږده قد مونه

*****

ګودر په سر مې قبر جوړ کړئ

چې مات منګی پیغلی زما په قبر ږدینه

*****

ګودرکې هره ورځ اختر وې

منګي په سر ورله راځی جو نی سیلونه

*****

ګودر د غدونو څه کم نه دی

پکې ښېرې شنې پاخې کټه بازونه

*****

ګودر دې عمر له اباد وې

مازد یګرې پکې وي اخترونه

*****

ګودربادشا منګی وزیر دی

وزیر همیشه د خپل یار سلام کو ینه

*****

ګودره ټول درته لو ګی شم

په سور سالو کې لیلا ستا خواله را ځینه

*****

ګودرکې هره ورځ اختر وې

رنګ رنګ پکې وي د خو بانو محلسونه

*****

ګودرته راغلی برابره

یا خو لګۍ راکړه یا منګی در ماتو مه

*****

ګودر دې عمر له ودان وې

په دی بهانه د جانان وکړم د یدنونه

*****

ګودره بخت دی غلبه دی

د پیغلو جنو سیل کوې حیران دې کړمه

*****

ما په ګودر د جنو ښخ کړی

ګو ندې ملا له پر ما کیږدې قد مو نه

*****

ما زد یګر تل لرې خاونده

چې ماز د یګر په ګودر وشي د یدنونه

*****

مازدیګر پیغلی ښې اغلی

منګي په ولو دګودر غاړی له ځینه

*****

ما سره سم ګودر له لاړ شه

منګي مې دوه دی نری ملا مې ما تو ینه

*****

منګی به تخرګ ګودر له ځمه

دغه یو ځای دی چې پری کیږی د یدنونه

*****

منګي کې مورې اوبه نه شته

زه د اوبو لپاره کوز ګودر له ځمه

*****

ولی به زه ور پسې نه مر م

اوړی په غاړه ما زد یګر ګودر له ځینه

*****

وخت د ځوانۍ مې نیمه خوا شو

یار بې وفا شو ارمانې به ګودر له ځمه

*****

هغه ساعت به کله راشي

چې د اشنا سره به بر ګودر له ځمه

*****

هر مازد یګردی لوی اختر دی

ګودره ! ځکه دې صفت هر ځای کو مه

*****

جنې د پلاره دې وير يږم

ګودر ته راشه کور ته نه درسره ځمه

*****

چې ماز د يګر شي زړه مې ښه شي

په ګودر جوړ شي د منګيو کتارونه

*****

چې مازد يګر شي عاشقان ژاړي

چېته له خياله منګي وړي په ګودرونه

*****

چې يوړم يوړم اوبو يوړم

چې بې ګودره ګډه يدم اوبو به وړمه

*****

متلونه

- اوبه په ډانګ نه بېلېږي
- اوبه په اوبو شيدې په شيدو
- اوبه په کمزوري ورخ ماتېږي
- اوبه پورته وهه کښته يې لار ده
- اوبه چې ترسر پورته شي، څه يوه نيزه څه دوه نيزي
- اوبه چې تر غاړې ورسېږي، زوی تر پښو لاندې کيږي
- اوبه چې ډېرې ودرېږي، خوند يې بدېږي
- اوبه که هر څو بندې کړې خپله لاره پيدا کوي
- اوبه د سر له خوا خړېږي

- اوبه د لوښي له مخه ځښلې کيږي

امثال او حکم (۱۰) مخ

- اوبو اخستی زګ ته لاس اچوي
- اوبه له پاسه خړيږي
- اوبه خړوي، ماهيان نيسي
- اوبه روشنايي ده
- اوبه اوغوړي نه سره ګډيږي
- اوبه او اور سره نه يو ځای کيږي

همدا راز په پاړسي ادب کې هم داسې شعرونه شته،چې پکې اوبه،سین او داسې نور اوبو ته اړوند مسایل شته،لکه په لاندې توګه:

سهراب سپهري

# آب

آب را گل نکنیم:
در فرودست انگار، کفتري مي‌خورد آب
يا که در بيشه دور، سيره‌يي پر مي‌شويد
يا در آبادي، کوزه‌يي پر مي گردد

آب را گل نکنيم
شايد اين آب روان، مي‌رود پاي سپيداري، تا فرو شويد اندوه دلي
دست درويشي شايد، نان خشکيده فرو برده در آب

زن زيبايي آمد لب رود،
آب را گل نکنيم:

روي زيبا دو برابر شده است

چه گوارا این آب
چه زلال این رود
مردم بالادست، چه صفايي دارند!
چشمه‌هاشان جوشان، گاوهاشان شيرافشان باد!
من نديدم دهشان،
بي‌گمان پاي چپرهاشان جا پاي خداست.
ماهتاب آن‌جا، مي‌كند روشن پهناي كلام.
بي‌گمان در ده بالادست، چينه‌ها كوتاه است.
مردمش مي‌دانند، كه شقاق چه گلي است.
بي‌گمان آن‌جا آبي، آبي است.
غنچه‌يي مي‌شكفد، اهل ده باخبرند.
چه دهي بايد باشد!
كوچه باغش پر موسيقي باد!
مردمان سر رود، آب را مي‌فهمند.
گل نكردندش، ما نيز
آب را گل نكنيم.

1 آب از دستش نميچکه .

2آب از سر چشمه گله .

3 آب از آب تکان نميخوره .

4 آب از سرش گذشته .

5 آب در کوزه و ما تشنه لبان میگردیم .

6آب را گل آلود میکنه که ماهي بگیره .

7افتاده آب زیر پوستش .

8. .آب که یک جا بمانه، گنده میشه

9. چه یک ذرع چه صد ذرع ـ چه یک ني چه چه صد ني آب که از سر گذشت،

10قورباغه ابوعطا میخونه آب که سر بالا میره،

11. آب نمي بینه اگرنه آبباز قابلیست

آب دریا را اگر نتوان کشید
هم به قدر تشنگی باید چشید
ردیف ۱۳۴۳ تا ۱۳۴۵
آب دریا جمله در فرمان توست
آب و آتش ای خداوند آن توست
گر تو خواهی، آتش، آب خوش شود
ور نخواهی، آب هم آتش شود
تو بزن یا ربنا آب طهور
تا شود این تار عالم جمله نور
ردیف ۱۳۵۵

جان‌های بسته اندر آب و گل
چون رهند از آب و گل‌ها، شاد دل
ردیف ۱۳۷۰
راند حق این آب را در جوی تو
آفرین بر دست و بر بازوی تو

مولانا، خداوند عالم را مختار کن جهان می‌داند. به قسمتی که او قادر است ماهیت هر چیزی را مقلوب نماید تا بدان پایه که آب را به آتش و آتش را به آب مبدل ماید و در دنباله مطلب، از خداوند می‌خواهد با آب طاهر، آتش را مبدل به نور گرداند. در اینجا نقش آب پاکیزه و ظاهر برجسته است. به‌طوری که در باور فرهنگ ما، آب، همواره زداینده پلیدی‌ها است.

بر سرش ریزد چو آب از مشک‌ها
دشمنان، او را به غیرت می‌درند
دوستان هم، روزگارش می‌برند